April 4,
1957



پرله‌پسی گڼه (۴۲۰)

دلسان الغیب د تلین په تقریب

د حمل په څلرمه شپه د پښتو ټولنې له خوا د نورو کلو په شان په کابل راد یو کښې د وطن د مرکز او اطراف د شاعرانو په ګډون یوه ډېره د رنه مشاعره وشوه، د غه مشاعره چه پوره متن او تفصیل به ئې په دغه ګڼه کښې ولولی ، د پښتو ټولنې د پیاوړی مشر استاذ «الفت» په غیاب کښې چه هغه په دغه شپو ورځو کښې د نیکه مرغه د افغانستان د یوه ثقافتی او ادبی محترم هیئت په مشرۍ د دغه غیب السان مزار ته د افغان ملت د زړه د کومی دارا دې او اخلاص اهدا کولو له پاره پېښور ته تللی و، د وطن د محترم فاضل ښاغلی محمد ارسلان «سلیمی» له خوا وکالتاً افتتاح او د پیاوړی ادیب او فاضل ښاغلی عبدالرؤف «بینوا» د کابل راد یو د رئیس په اختتامیه وینا پای ته ورسیده .

کابل مجله د دغه متصوف او عارف روح ته د دغه تقریب په مناسبت درود استوی او دده د روحانیت په برکت د پښتنو پښتنی شعور او احساس ته د پښتو نولۍ ساتلو په لار کښې د زیات ادراک هیله کوی.

(۲۷ کال)

(۲) گڼه



پښتو ګلبل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواك»

پته: د محمد جانخان واټ دلیك او اصول د پخوانی ښوونځی تر څنګه

د تیلفون لمبر (. . .)

ددی ګڼې

د ۱۳۳۶ کال دحمل (۱۵)
د ۱۹۷۶ کال دروژی (۴)
د ۱۹۵۷ کال اپریل (۴)

لیکوال

ژواك

ښاغلی سلیمی

« پژواك

« عبدالحمید مخمور

« دوست شینواری

« پکتیانی

« بختانی

« الفت

« روشندل روشن

« سیلاب

« ننګ یوسفزی

« علی احمد شیرزی

« بینوا

« لوڼکین

« م ا سلیمی

« سرفراز

« نوابی

« پسرلی

« جوهرمالك صدیقی

« هوسا

« ننګرهاری

« دردمند

« د کابل رادیو رئیس

« مجروح

« پکتیانی

« سیفی

« ممنون

« میرزا حنان

یادونه :

دپیام حق دنوی کال مجله دائیری ته راورسیده خو دنوی رنګ اونوی صحافت سره حقیقت دادی چه دی مجلی دحق دپیام دپاره خورا غوره خدمت کړی او کوی ئی ددې مجلی مضامین هر وخت په زړه پوری دی د ښاغلی محترم رشاد صاحب دتربیه افکار و دمشر اودخپل وخت دمد برانو خاصه توجه او دښه لیاقت ابراز ښئی مګر نوی مجله له هر مخیثه دتوصیف وړده.

کابل مجله دهمدې مجلی ددی ښه رنګ او ښو مضامینو نشر و لو په اثر محترم رشاد صاحب ښاغلی خالص او ښاغلی بارق ته تبریك وائی.

د پشتنی عکس دلسان الغیب حضرت رحمان بابادی

مضامین

د ۱۳۳۶ کال ....
دمشاعرې افتتاحیه وینا
صحرائی ګل
رحمان بابا ته دعقیدت خراج
خپل زړه
رحمان بابا ته عقیدت
دشاعرانو یاد
عبدالرحمن بابا ته خطاب
ای ز مونږ بابا
درحمان بابا په یاد
خیبر ته خطاب
رحمان بابا ته
پسرلی
رحمان بابا ته
غم لحپلی روح
بابا
اغاز...
رحمان بابا
رحمان بابا ...
درحمان بابا ..
ترون
دبهار منزل
خوږو ملګرو
شاعر او ...
دتیرو یاد
خان عبدالصمد خان ...
پسرلی ته خطاب
کتاب

د ۱۳۳۶ کال د حمل څلرمه شپه

هر سړی پوهیږی چه د انسانی نړۍ تعمیری بنیاد د یوی روځی یا یوې هفتې، یوې میاشتی او یوه کال محصول نه ګڼل کیږی بلکه د قرنونو څخه نیولی تر کلونو پوری او د کلونو څخه تر میاشتو او هفتو، د میاشتو او هفتو څخه تر روځو او شپو حتی تر ساعتونو او دقیقو پوری رسیدلای شی او سره له زمانه د مکان اختلاف هم یکښی اثر لری او د زمان او مکان د اثر سره و یوه فاعلی قوت ته هم محتاج ګڼل کیږی یا په لنډ ډول د نیا د «مادې او مدې» څخه جوړه شوې ده (حکماؤ په قول) زه خبره ډیره نه اوږده وم او په ډیر اختصار سره وایم چه د پښتون قوم ادبی ننني نهضت د بلی روځی (تیروخت) محصول دی او د تیروخت په سلسله کښې حضرت عبدالرحمان بابا غیب السان نه دا چه د ادب د نهضت پهلوان و، بلکه دی د ژوند یو اخلاقی معلم، د روحانیت د رمز سره اشنا کوونکی فقیر- د انسانی صفاتو غوره ښوونکی هم و، او په ډیر صحیح ډول سره د حضرت لسان الغیب دا تعلیمات د ده له خوا، و هر زړه ته ور کول کیدل مګر د یوه راز دار پشان و هر زړه ته د منلو وړ، و و او په ډیر رضا او رغبت سره چه زما همدغه ادعا د لسان الغیب د دیوان وجود په هر کور او د هر هر چا سره خورا ښه ثابتولای شی او په همدې شان د حضرت رحمان بابا د دیوان بیتونه د هر پښتون (زوړ دی که ووړ، ځوان دی که پېغله) په یاد زده کول او د ژوندانه د امورو د ښه او بد د ثبوت د پاره یو ښه ثقه معیار ګڼل دی یعنی د ده په قول ښه، ښه بلل کیږی او بد، بد.

دادی د حضرت رحمان بابا مقبولیت د عامی طبقی او خاصی طبقی په نظر کښې.

اوس به نور اشو دې خبری ته چه د پښتون تبر د ده یاد و بود کوی:

دا خبره یوه طبیعی خبره ده چه د همدې ډول مقبول مشر بابا یاد و بود به کوی او ټول پښتانه په یوه سلا — همدغه یوه سلا ده چه لر او بر پښتانه د حمل په څلرمه شپه هم په کابل را دیو کښې او هم په محکوم پښتونستان کښی سره راغونډ شول او حضرت لسان الغیب ئې د خپلو زړو په یو څو باحرارته جملو یاد کړ.

دادی تاسی د ده یاد و نه د افغانستان د پښتنو له خوا د کابل په مجمله کښې وینیء او وبه ئې لولیء

ژواک

د مشاعرۍ افتتاحیه وینا

درنو او رېدونکو!

دتېرو کلونو په شان نن بیا چه د نوی کال لومړۍ شپې ورځې دی، درانه پښتانه ادیبان د کابل راډیو په ستوډیو کښې راغونډ شوی او د پښتون لسان الغیب حضرت عبدالرحمن بابا په یادو د پښتو مشاعره کوی، په دې بختور تقریب زمونږ په ننني مشاعره کښې یو لوی خصوصیت دادی چه د افغانستان «پښتو ټولنې» چه د افغانستان د ښکلو او قیمتی ډبرونه د کابل د حجارۍ او نجارۍ په فابریکه کښې یو ډېر ښکلی قبر جوړ کړی، هغه دسترو پښتنو ادیبانو (ښاغلی ګل پاچا الفت، ښاغلی قیام الدین خادم او ښاغلی صدیق الله رښتین) نه جوړ شوی دیو ډېر درانه ادبی او ثقافتی هیئت په لاس پېښور ته لیږل شوی، او اوس به د رحمان بابا د مزار تر څنګه پروت وی او د جوړېدو انتظار به لری او زمونږ د دغی درنې ادبی او ثقافتی جرګې ښاغلی غړی به اوس د خپلو پښتونستانو لیکوالو ادیبانو او نورو ورونو د نه شلېدونکی، او ابدی لسانی، نژادی کلتوری یووالی د مینې او محبت په څنګ کښې ناست وی او د ټولو پښتنو د نېکمرغۍ او سعادت هغه راز او نیاز به سره کوی، چه ټول یې آرزو کوو او د ګټلو په لاره کښې یې د هر څه قربانولو د پاره تیار یو.

دادی اوس مونږ پخپله مشاعره پیل کوو او هیله کوو چه تاسې به یې په مینه واوری:

ښاغلی محمد ارسلان سلیمی

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروایم — په نرمۍ لکه او به داورسزایم
وهرچا ته په پخپل شکل څرګندیږم — آینه غوندې بی رویه بی ریایم
قناعت مې ترخرقې لاندی اطلس دی — پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدایم
دغنچی په څیر په سل ژبو خاموش یم — لکه بوی هسې په پټه خوله ګویایم
په ژړامې د خپل یار دیدن حاصل کړ — د شبنم په څیر له ګل سره یکتایم
هم به د اسپینو جامو به معلومیږم — لکه ابر هم ګوهر یم هم دریایم
دراز عمر مې حاصل شه د راستیه — لکه سرو مدام سبز و تازه پایم

که چالار د عاشقۍ وی ورکه کړې
زه رحمان د ګمراهانو رهنمایم

ښاغلی پژواك:

صحرائی گل

نه‌پو هیبزم پکتیا یا ننگرهار کښی ارغنداو یا دهری رود په کنار کښی
په بخدی کښی، نیسایا یا زرنکا کښی کاپیسا کښی، په‌واخان یا لمپاکا کښی
آریانا کښی دسوما ترڅنگ یو گل ؤ چه آشنا، نه د بورا نه د بلبل ؤ
پسرلی ته ئی خوله وازه‌په‌خندا کړه چه‌دازه یم چه زیبا می دا دنیا کړه
که زه نه وای‌ته‌به‌هم له‌سره نه وی پسرلیه! زه دې و مه غولولی
پښتنو ته داز ما یو خبر یو سه چه‌دراز دژوندانه نه خبر اوسه
چه گل نه‌وی پسرلی کښی‌ژوندون نشته هماغسی چه نن نه وی پرون نشته
که ژوندی‌وی تل بهاردی داجهان هو
دژوندی دپاره نشته دی خزان هو
لږ ژوندی‌شه‌سرد کانو نه بهر کړه د دنیا په غوړیدلی باغ نظر کړه
پسرلی کښی هغه گل‌چه‌بیدار نه‌وی په‌بهار کښی‌هم‌خزان دی بهار نه وی
هغه گل چه گلخانه کښی‌پریو تلی په هرفصل کښی تازه دی غوړیدلی
ددنیانه گل‌خانه‌جوړه کړه ځان ته
نظرمه کوه بهار ته او خزان ته

ښاغلی عبدالحمید مخمور:

رحمان باباته دعقیدت خراج

د بلبل‌غوندی چغېږی په بوستان کښی درحمان‌روح دپښتون‌په‌دې بوستان کښی
پښتانه شاعران ستوری دی ځلیږی خورحمان‌بابادی‌لمرپاس‌په‌آسمان کښی
درحمان دلوئی لوی دلیل یو دادی چه ئی‌هجو،مدحه‌نه شته‌په دیوان کښې
داد قبر تیږی نه دی چه مو د روړې عقیدت دی‌دافغان ستایه آستان کښې
ستا دروح په برکت غواړم له‌خدایه
پسرلی دخپلواکی پښتونستان کښې

خپل زړه ته

زړ گیه! پری مېږده ارام، څله پیغور یا دوې؟
زه یو غم هیر کړم، ته غمونه راته نور یا دوې
زه داورنگ دبیدا دی نه لا خولې خولې یم
ته لاهما غه دپښتون د تورې زور یا دوې
زه دطوفان پرشوره غیږ کښې چاپرې ایښی نه یم
خو ته ما شومه، لا هما غه شورماشور یا دوې
زه لکه شمه په سلگو دړ نډ و مخ کښی سوی
ته لاهماغه سوز گداز او ها غه اور یا دوې
سړه سینه کښی می لابیا تاوده اور ونه غواړې
ورستو هډو کو نه می بیا انقلابونه غواړې
زما نظر په مغلگو، ته تا ترې لټوې
زه چا ره سده، ته دخیبر لوئې درې لټوې
زه دهمیش ماجرا وینم، ته رحمن یا دوې
زه دژوندو په غم کښی ورك، ته هدیرې لټوې
زما په غوږ دی شر نگها ر د زولنو ځنځیر و
ته د باړې ها غه آزادې خاطرې لټوې
زه دسبا لری منزل ته قافلی ویښوم
ته د پرون د قافلو زړې ډیرې لټوې
زما ارمان ناموس د شمې پتنگان لټوی
خوستا ارمان لا په ایرو کښې سوختگان لټوی
تا ته د ژوندله خجالته ژوندون اور ښکاره شی
لکه رحمن درته یوشانی کور او گور ښکاره شی
ما ته ه دڅو تنو بی ننگو پښتنو له لاسه
دننگیالیو نیکو یا د شرم، پیغور ښکاره شی
تا ته د اغونه د صلیب د پاك خیبر په لمن
دپښتون والی دناموس پورې لوی تور ښکاره شی
ما ته ناخوالې د چنگیز او هلاکو یا دوی
په دی پښتون چه راته دومره ظلم زور ښکاره شی
زما سلگی دغه غمجن ژوند او جهان لړ زوی
ستا اوسیلی دارما نجنو گورستان لړ زوی

ښاغلی نیك محمد «پکتیانی»

رحمان باباته عقیدت

پسرلی نسیمه! راغلی؟ مست دیار پریشان کاکل کړه
چه درنګ اوبوی کاروان شی، څنی زمنځی دسنبل کړه
په چیغار په ترانه بیا، دغه چوف غوندی بلبل کړه
التفات زما په خواهم، راعطا پیاله دمل کړه
چه راتول پریشان افکار کړم، کښی پیداڅه رنګینی شی
رنګ، خواص پښتو خمیر ئې، یعنی واړه پښتنی شی
دوریښمین موسم هوانه، راورېږی طراوت
نوغی پورته شو دګلو، ارمغان دلطافت
دجمود له خولی نه چیغه، ووته دحرکت
شوې لندې له خوبه ډکې، دواړه سترګې دحسرت
سر راپورته له بړستنی، باید ترك نور داسکون شی
لاس ترزنې ممکن نه دی، چه په دی وخت کښې ژوندون شی
زمادزړه ستنې کښ ېږی، بیا دچا په ارادت
احساسات مې سند رایزشی، یوګیډی د عقیدت
خپل پالل په خپلو فخر، لری خپلو ته لذت
داجذبه ده ددې وینی، لوړ مقام د قومیت
لاهوری اقبال هېرنکړ، قدردان کام د افغان
څنګه هیر به خپل بابا کړی، پښتونخوا عبدالرحمان
دپښتون بابا په لوری په دوه لاسه سلامونه
دپښتو کلکه رشته ده، څه په منځ کښې که دی غرونه
ځکه نشی بیلولی، دا او به څوك په ډانګونه
نو په دی نارساژبه، عرض کوم دا پیغامونه
دپوبوګن در دله لاسه، نا قرار لکه سیماب یم!
دې پریشان جدا احوال ته، دخپل کام په اضطراب یم!

پاته په ٦ مخ کښی

ښاغلی عبدالله بختانی:

دشاعرانو یاد

پښتنو کښی ډېر تېر شوی شاعران
عالمان او عاشقان او عارفان

بېټ نیکه ځنی نیولې تـر الـفته — سالکان او بادشاهان او فقیران
تیمنی او ملکیار او ښکارندوی — وو دغور په سر درو کښی بلبلان
احمد شاه بابا ادب کښی هم باباؤ — تر دولته بیـنوا ؤ میار و ښـان
دخوشحال غوندې دقام دپت پالونکی — د پښتو او پښتنوالـی خادمان
په ختـکو کښی اشرف، عبدالقادر ؤ — بیا شیدا په محبت کښی کاظم خان
دا ئی شعرؤ که خوناب دزخمی زړه و — د مومند عبدالحمید در او مرجان
دتوکل او سید کمال سیال خو میراؤ — په ډیـو و د مـحـبت و و پتنـگـان
دحمزه د سمندر خوا کښی همېش — یا ساقی او ساغر و ینم یا طوفان
دپښتو ادب په پټو خزانو کښی — هم پښتو شته، هم غیرت شته، هم ایمان
ماسره قدر او قیمت لری د اواړه — دغه فخر کښی شریك دی ټول افغان

بختانیه که رښتیا را باندې وایې
معجزه لری شعرونه درحمان

ده مخ پاته

ملك کښی هر څه خدای ور کړی، خو لوڅ وږی ئی نسونه
چه ؤ تل ددوی محکوم، اوس هغه کړی پرې حکمونه
هسې ژوند چه ډك له عاروی، نه ښائېږی له پښتونه
دغریق نجات په کار دی، دخونی سیند له موجونه
د بې سده اوږده خو به نتیجه ده د غفلت
له دې زیات ئې ربه!! مه کړې نور په کنده د ذلت
نور خواره واره راټول ئې، ځنې جوړیو جمعیت کړې
دتسپو په شان ئی زړونه، په یوه تار کښی دوحدت کړې
په دنیا کښې دپښتون سر، په سیالی بیار اوچت کړې
جذبه حس ئې په کلك عزم، په لوړتیا دقومیت کړې
که شی وتره وچه مځکه، دسر و وینو په لښتو
«پکتیانیه!» ټیټه مه شه، دا شمله دننګ پښتو

عبد الرحمن باباته خطاب

له تا سره له حده زیاته استغنا وینمه
دنیا حقیره نظر کښې په رښتیا وینمه

جاه و جلال دې په حضور کښې قدر نه درلوده
له تا نه ټیټه د دنیا هره لوړ تیا وینمه

د عشق دلارې خضر ته ئې د پښتون د تبر
تا په رښتیا دلار وور کو رهنما وینمه

نه دی صورت نه رنګ او بوی چه تا پرې زړه بایللی
ځکه دې شعر کښې بل کیف بله معنا وینمه

په ښکلو باندی مین نه وې په ښکلا وې مین
پخپله مینه ستا خیالی ښکلې لیلی وینمه

چائې پلو لیدلی نه و، تا ئې مخ ولیده
ډېره ناشنا معشوقه تا سره آشنا وینمه

که نور دې خاورولاندې ښکته په مزار کښې وینی
زه دې ډېر پورته له هواد دې دنیا وینمه

ډېر تعجب دی که څوك هغه چاته مړووائی
چه په وینا کښې ئی اثر د مسیحا وینمه

په زړو کښې ځای لرې او کار دې و، له زړونو سره
ځکه دی شعر کښې د زړونو تسلی وینمه

دوه مملکته دې بابا ګڼی له ډېری مینې
ستا د شهرت تابع تمامه پښتونخوا وینمه

په تا ټولېږی پښتانه ته ئې د ټولو بابا
د لرو برو پښتنو غونډه په تا وینمه

«الفت»

ښاغلی روشندل «روشن»

ای زمونږ بابا

د دوهنی په غاړه ناست مست قلندره! په کچکول کښی دی ځای کړی وو حکمت
په ظاهر که وې کند پوش عاجز ملنګ د رسره وو د شاهانو لیاقت
که فقیر وی په نظر د نابینا وو خو بینا وو ته امیر وې با شوکت
که خرقه د ملنګی دې وه پر غاړه تا لر لو په هغه کښی لوی قدرت

معلم وې لارښو ونکی د خپل قام
هر یو پند دې و، هر یو ته لوی عزت

که شاعر وی داد ب دباغ اوبڼ معرفت کړې فیلسوف د زمانی
که دی ځان ؤ فقیر کړی یخپل کند تا لر لې عالم ګیرې خزانی
دپښتو ادب دې خور کړو په هر لور لکه لعل، او ملغلر وښی دانی
په دریاب د تصوف وی لمبیدلی په طاهر دی ځکه نه وی سمانی

لکه ستوری په آسمان کښی داسی ښکاری
په جهان کښی ستا دعلم آشیانی

دادب درس دې راکړی ای بابا ټول پند و نه وصیتو نه عالیجا
د اخلاص وصف دی کړی خپل دفتر کښی صداقت دې کړو هر یو، کښی راپیدا
بډی خور، او ټنګه خور دی مذمت کړو د اخلاقو درس دی ور کړو هره خوا
انسانی خواص دی وښو دل ادب کښی فلسفه د ژوندانه دې کړه رڼا

دادب په باغ اوبڼ کښی لویه پلاره
پښتو نخوا دې کړه اوچته له هرچا

ستا په ویاړه یو، ټول شوی زمونږ بابا! استو و د ستا په روح پسی درود!
په سلام سلام ګویا یو ستا حضور ته د رته وا یو دا د خوږ زړګی مقصود
ای فقیره! ای امیره! ای پیشوا بیا مونږ غواړو پښتو نخوا کښی ستا وجود
ته رهبرې رهنما وې د خپل قام بیا رهبر شه، قلندر شه زمونږ د سود

راته وښیه ښه لاره ای بابا
چه پښتون شی په هغه باندی مسعود

ښاغلی سېلاب :

درحمان باباپه یاد

د فکر اس بیا تېند کخورغوندې شه لالیه ! پا څه شرو شورغوندې شه
بند کړم تقدیر د لېونتو به سره د خو دی جام خومی نسکورغوندې شه
د کبر جن اشنا په مینه کښی می قسم دی بیا په غوږ پېغورغوندې شه
ساقی را وړاندی کړه کنډول دمیو دننه زړه باندې حال نورغوندې شه

بس دی په سدونه په څنګ ځمه
کومی دوهی نه د ملنګ ځمه

بلبل به بیا کوی تقریر د مینی عاشق به ګرزی په کشمیر دمینی
بور ! به بیا تړی احرام دطواف پتنګ به سوزی په تنویر د مینی
مین چه بیا سر په زنګون ایښی دی ریبار به هم تړی تدبیر د مینی
شاعر به بیا دشونډ و رنګ یادوی زلفی به ستائی په ځنځېر د مینی

خوزه به! ځم دلیونیانو پسی
چېرته رندانو ملنګانو پسې

اول مې زړه دی میخانی ګورمه او د رندانو خېلخانی ګورمه
خلېل، مومندو، داؤدزو ته ورځم هلته د مستو افسانی ګورمه
چه شم بېخوده پیمانی ګورمه هغه معجزې ترانی ګورمه
هغه د مینی خزانې ګورمه او آرنګینی یارانې ګورمه

په کښی پټ شاه ظاهر فقیر لټوم
په پښتو ژبه عالمګیر لټوم

له دی بی دردونه امان غواړمه ځم له دردمندونه بیان غواړمه
اختر برات سپرلی می نه دی په کار ګنډل ددی څیرې ګرېوان غواړمه
چه رسیدل می تر منزل وشی زر دې خپل کاروان ته خپل ساروان غواړمه
له لر و بر و پښتنو زلمونه خیال دادب د قهرمان غواړمه

خدایه ترڅو به سترګی نم ګرزمه
په سروغرمو به دستم ګرزمه

ډیوه خو بله ده پتنګ څه شو ؟ دغړید لو ستر ګو جنګ څه شو ؟
چه د وطن مینان ولړ زوی دادم خان در باب ترنګ څه شو ؟
نېغی شملې خو ډېرې ډېرې وینم آد بابا د تورې شرنګ څه شو ؟
خیبرهم شته دی تا تره هم شته دی هغه وزر د نام و ننګ څه شو ؟

بس زه ورځمه هدېرو ته ژاړم
ننغی حال به پرونو ته ژاړم

ښاغلی ف.م «ننګ یوسفزی»

خیبر ته خطاب!

ویاړه ویاړه ای خیبره ! چه پاسبان دا یشیا یی
سر دی هسك دی تر آسمانه نګهبان دا یشیا ... یی
دخپل زور پخپله ساری قهرمان دا یشیا... یی
د پکتیا نامتو . . . اتله پهلوان دا یشیا یی
ای خیبره پوخ سنګر یی لرو برد پـ . . ور یی
ته په ځان پښتون عسکر یی ساتند و نکی دتبر یی
بهیر و نه د قرنو نو . . . په سینه دی بهید لی
زمانی لکه ما شوم دی ستا په غیږ کښی لوبیدلی
طوفانو نه د دورو نو دی له زوره تمبید لی
حوادث په ډلو ډلو ستا له مخې تښتید لی
دا په لوړو کښی دی هومره دپښتون دهمت زور دی
چه کمال دمغلو الی دی په ځوړو کښی نسکور دی
دلالو نوډك لړمون دی زیږنتون دی د پښتون
دا ځمری پالونکی غیږ.. دی روزنتون دی دپښتون
تاریخی افتخارات ... دی خوږ ژوندون دی دپښتون
تیږه تیږه دې خیبره ! یومضمون دی دپښتون
هره څنډه دی خیبره ! دپښتون دغیرت نخه
دخوشحال پښتنی توره د مغل په سینه ښخه
ستا په تالنده بر ښنا کښی تندورونه پټ پراته دی
ستا دستر ګو په رپا کښی محشرونه پټ پراته دی
ستا په چو په شان فضا کښی شورشونه پټ پراته دی
ستا د ځیز مو په دنیا کښی عظمتونه پټ پراته دی
چه ئی تا ته سپك کتلی
نو په ځان باندی تیروتی
ډیر سرونه دسر زورو
ستا په پښو کښی دی پریوتی

پاتی په ۱۱ مخ کښی

ښاغلی علی احمد شیرزی:

رحمان باباته

ای د ذوق او فکر لویه قهرمانه د پښتون معنوی پلار عبدالرحمانه
په کلام کښې ستا معنی شته ده بیشانه د ادب د باغ بلبل هزار داستانه
د اخلاقو لوی ښوونکی او لوی پیروی
په پښتو ژبه کښې داسی عالم گیروی
قدرت ایښی ؤ تاثیر ستا په زبان کښې هم دی شعر هم کلام هم دې دیوان کښې
ستاد شعر مثال نشته په جهان کښې تا لوستلی درس دعشق په دبستان کښې
ته د عشق د مدرسی یو لوی رهبر وې
په نړۍ کښې د ادب رو ښانه لمر وی
چه د یار ښکلی تصویر دې ؤ نظر کښې هسی رنګه دې ستا یلی خپل اثر کښې
زینت نشته په مرجان دراو گوهر کښې چه ئی وینم زه د ستا ښکلی دفتر کښې
فیلسوف د تصوف غیب السان وې
د ظاهر او د باطن ښه ترجمان وې
له هر چاوې لوړ په فکر او تدبیر کښې تا د علم بنیاد ایښی خپل ضمیر کښې
دیار غم دې و قسمت او په تقدیر کښې اسیر شوی وې د زلفو په ځنځیر کښې
ستا د یار په شان بل یار په جهان نه ؤ
ستا د مینی په بوستان کښې خزان نه ؤ
دخپل یار د مینی اور کښې کړیدلی په طلب دخپل محبوب کښې ژړیدلی
فلسفه د تصوف دې ښه لوستلی چه په بو گړۍ نر عرشه رسیدلی
چه قدم ئې رسیدلی تر آسمان دی
شیرزی وائی قلندر عبدالرحمن دی

د ۱۰۵ مخ پاته

سردی جګ اوسه خیبره ! چه یادگار دلرغو نو ئی
پښتانه په تا ناز یږی . . . نه پکړۍ د پښتنو ئې
لوی واړه مو لتا زار شه امانت د میړ نو ئی
ته پخپله خپل تاریخ ئی سرچشمه دا فسا نو ئی
یوه لار دتلو را تلو ئی
ته په مینځ د پښتنو کښې
دروند مقام لرې خیبره!
ته په زړونو ددرنو کښې

ښاغلی بینوا:

پسرلی

بیایی و څکل له کم خمه ډك جا مونه
داد هسك (۱) پیغله چه ناڅی له جنو نه
له مستۍ نه ئی سا غر له لا سه پر یو ت
په څو څاڅکوئی کړه مست سپیره ډا گو نه
له خندائی د غاښو ځلا بر ښښنا شوه
مر غلری لو نوی (۲) پر سنگیرو نه
په ملال ملال کا ته چه گوری بڼ ته
له هو سه و ر ته خو لې سپڼی گلو نه
د بادام و نی چه شنډې وی په غرو کښی
ور په غاړه ئی د جنډو (۳) کړه هارو نه
ته وا خپل دز لمیتو ب کالینه نیسی
چه خپا ره ئی کړه پر د ښت شنه میزر و نه
هر سهار ئی ښکلی مخ دی سره وایی کا
که ئی وو یشت دمین زړه له څنډو نه (٤)
په ښکلا نمنځو ی بـیا پښتنی پیغلی
چه شین شین ځی په خندا په مـکیزو نه
د زلما (٥) په میو ستی چټې گوره
چه خپاره ئی لور په لور کړه اور بلو نه
هم ځغلا کا هم نڅا کا هم شڼا (٦) کا
چه تر څنـگ کړی درو پوسپین امیلو نه
د کښ دیو مخ غا ټولو سور بخمل کا
چه پری و کا ز لمی نجو نی اتڼو نه
له سپیرو خا ورو با می گلو نه پا څی
چه پر ی تیر شی د نجکیو پـلو و نـه
د کړ و نـگی د ی زغو نه په درو کښی
لا د پاسه پر ی د چوڼو (۷) آوازو نه
وایی اوس به سیل د نجو نو باند ی راشی
ز لمی ځـکه و ر ته نیسی گو د رو نه

---

(۱) هسك = آسمان (۲) لو نل = نثار کول (۳) جنډو = گل (٤) څنډو نه = شفق (٥) زلما = ځوانی (٦) شڼا = مستی (۷) چوڼو = بلبل

سپیڅلتوب مینه یوبل ته سره‌ور کا
په‌هرځای چه مخامخ شی مین زړونه

کټهار د زر کومړه‌زړونه‌ژوندی کړه
چه نغمو نغمو کښی ستایی‌شینکی غرونه

د غره هر بوټی ته وایی جارله تا شو
ستا په‌مینه کښی ښندی‌زلمی(۱)سرونه»

در یدی‌جنډو وزمه‌ئی ترسپېز موشوه
داچه پاڅیده هو سی‌له مېږ تو نه

هلمند بیا په څپو راغی غاړې غاړې
چه ور غاړه غړی‌شوه څپان نیزونه

دپسرلی ناوی ودیږی‌ورائی پنډه
مخ کاته‌اخلی‌دغروسو رکی‌لالونه

نند ارو ته ئې و تلی لوی و اړه دی
خو چا مسته خندا را وړه چا غمونه

وبید ردو ته ئی‌د که خو له‌مسا کړه
د دردمنوزړوئی‌لا زیات کړه‌دردونه

د هغو به څه پسر لی وی چه ولاړ وی
په کښز و غاړو د بل پر در شلونه

ژوندئی وی دبل دپاره مړینی‌هم لا
جاروی‌دبل ترخوی تل خپل خویو نه

د کڼو په څیر د بل په خندا خا ندی
یا غور ځا که د پر د یو په ډو لو نه

یاخویواه‌بله‌خوری د گور چنجی شی
یا بیزاره‌وی د یو بل له ژو ند و نه

یاهیڅ سرنه تیټوی اسمان ته هم لا
یامریی غو ندی ولاړ په سلامو نه

آه ،څښتنه ! چه دی ژوند هرشی‌ته‌ور کا
په زر غادی‌و نما نځل سپېر ه رغو نه

چه کریا به میری ستا له پیر ز و ینی
شنی‌تالی‌شوې،شنی لمنی شنه د ښتو نه

درحمان با با در و ح له بر کته
دپردیو سیوری ورك کړی له پښتو نه

چه ئی ژو ند دپسرلی په‌څیر سمسور وی
خو ند به‌واخلو له دی‌ښکلی نندارتونه

(۱) داداحمدشاه بابادشعر تضمین‌دی.

ښاغلی «لونـ»

رحمان باباته

بیا پسر لی د رنگ و بو راځی — پټه خوله گل په مسکېدو راځی
لرو بر جوړې تنا گانې شولې — د بو ډۍ ټال په ځنگېد و راځی
بیا د شاهکار د طبیعت مخې ته — نغمه سرا په نڅید و راځی
هستی، مستی او د مستۍ آرزو — د خندا راز په ژړېد و راځی
غوټۍ به راز کاندی د مینی رسوا — د رقیب چال په ماتېد و راځی
په استقبال ئې د طواف د زلفو — پستی و ږمې په چلېد و راځی
د پسر لی ارمان چه ماسره دی — د زړه چا و دل په پخیسد و راځی
راځیء چه ور شو تماشه ئې و کړو — ځلمی جذبات په غوړېدو راځی
د پښتو نخوا غرونو رغونو کښې بیا — شهید امید په ټوکېد و راځی
مالره را کړه د لیدو ستر گې چه — یو نظر یار په تېرېد و راځی
چه آئینه مې چېر ته مخې ته شی — او ښې یو دم په بهېدو راځی

رحمانه ستا قبر مزار جوړېږی
خوږو نغمو ته دی گلزار جوړېږی

ښاغلی محمد عالم اتمان

رحمان باباته

اې دخدای ددرملنگه، اې چه زهد پر هېږ گاری کړی
اې چه بوخت په تقوا یې، اې چه خپله دینداری کړی
ای چه خدای ته په ثنا یې، اې چه یو رنگ داخواری کړی
ای چه ناست یې په سر توری، ای چه خپل رب ته زاری کړی
ددې خپل حاجت په ترڅ کښی پښتنو ته برم غواړه
د پښتو، پښتونولۍ هم بازار تو داو گرم غواړه
ته مو پلار مونږ دې زامن یو، ته بابا مونږ دې لمسی یو
ته مو غور نیکه یادیږی، مونږ دې واړه کړوسی یو
مونږ بدۍ ر دۍ، ځبلی، مونږ نتلی بیوسۍ یو
مونږ گوندۍ ړ تگو کو تلی، مونږ لوتلی بېکسۍ یو
ته جیگۍ، جیگۍ بابکه، په زار یو شه سبحان ته
ددې پېڅ پتنو دور کښی، ز مونږ عرض و کړه منان ته

پاته په ۱۵ مخ کښی

ښاغلی م، ا سلیمی

غم خپلی روح ځما هم په هوا شو

دا موسم چه د ژوندون فطری پیغام دی — دژوندون او ، جوړ سلای عام دی
دسحر و ږمه چه الوزی هوا کښی — خوروی زېری دژوند باغ او بیدا کښی
راپر ېوزی چه هر څاڅکی دباران — توري خاوری بدلوی په گلستان
دخزان ظلم او زور واړه ختمېږی — سپینی واوری هم په مځکه کښی ورکېږی
دکوکۍ خولگۍ جوړېږی بیا خندا ته — بورا بیا چوروی ځان دگل سکوندا ته
دژوندون گرونگی فضا کښی بیا غږ ېږی — غرورغو کښی بیا دشنیلو فرش غوړ ېږی
په تنا کښی دآسمان دژوند پیغام دی — هر یو څاڅکی دباران دژوند انعام دی
په خوړونو کښی دژوند اوبه بهېږی — له آسمانه هم دژوند اوبه ور ېږی
دگل غوږ کښی نسیم وائی داسې داسې — ژوندون ستا دی حوله خوبه که راپا څې

* * *

غم ځپلی روح ځما هم په هوا شو — دپسرلی پسته هوا کښی په هوا شو
دآمونه تر جهیلمه والو تلو — دوطن په سمو، غرو و گرزېدلو
یو وار لاړ لو خیبر ته بیا بولان ته — ځیر شو بیا دابا سیندسوی سوران ته
سروهلی، بروهلی ښکته پور ته — بیاور کوزشو د «رحمان» «ویلی گور» ته
«چارسدی» نه ئی خبر بیا واخستلو — په «تیرا» کښی په «ممانی» ورغللو
بیا مزار ته د «قاضی» شو په سلام — شهیدانو پښتنو ته لاس په نام
د «پاچاخان» سپینه زېره یی بوسه کړه — «اڅکزی خان» دلیدوئی تلوسه کړه

پاته په ۱۶ مخ کښی

د ۱۴ مخ پاته

مونږ دسپین اسلام دپاره ډېری توري برېښولی
مونږ دخدای رسول په لار کښی، ډېری، وینی بهولی
مونږ ددین آئین په ننگه نړۍ واړه لړزولی
مونږ مدام دبوت پرستو، دبوت حوی نړولی
اوس ددې چوپړ په ونج کښی، جلال وغواړه «اتمان» ته
په یقین سره قبلېږی، که رحمان ووې رحمان ته

ښاغلی احمد گل «سرفراز»

بابا!

ستا د پندونو په رڼا کښی بابا!
یو له ظلمت نه په پنا کښی بابا!

ستا د گلو ډ که باغچه کښی همیش — گرځو را گرځو تماشا کښی بابا!
ښکلی دیوان دی لوی دریاب د پښتو — لکه د لمر ښکاره د نیا کښی بابا!
باز دا فکار وا لو تل کوی تل — ستا د فکر و نو په فضا کښی بابا!
د زړه بلبل د ستر گو کسی هلته — وی تعجب د دی ایلا کښی بابا!
ستا له خزانه دا محفوظ گلستان — غنچی غنچی وی په خندا کښی بابا!
د مینی کور د پښتنو د زړونو — دې اباد کړی پښتو نخوا کښی بابا!
نشته دی دا سی ښه لذت د ادب — ښکلی مضمون بیان دچا کښی بابا!

زه هډه وال یم احمد گل ستا ملنگ
په در دې پروت لکه بلبل ستا ملنگ

د ۱۵ مخ پاته

د پښتون په مینا نو ئی سلام و کا — د پښتو په پتنگا نو یی سلام و کا
د پښتون په لر و برو پر گنو — تاوراتا وشو لو یه مړ و او په ژوندو
ددې ملک زاړه پسرلی یی بیارا یاد کړل — ددی قوم نو میا لی یی بیا را یاد کړل
ببر سری جنگیا لی د خوشحا لخان — «تاتره» کښی شا ځلمی دا یمل خان
په «جمرود» کښی یې شو یاد «محمد جانخان» — په کوهاټ کښی یی بیا و کوت دریا خان
په کابل او خور د کابل یې شو نظر — بیا یې و کړ لو په تل باندی گذر
بیا یې و لیدل د ملک زاړه خو بو نه — دا فغان هغه لو یی او عظمتو نه
هغه ښکلې پښتیا نا یې شوه تر ستر گو — ځای دفخر د ایشیا یې شوه تر ستر گو
لاړ و لاړ و په تاریخ د پښتنو کښی — د دی قوم د عظمت په نښا نو کښی
که گر گین و که اورنگ و که فرنگ — ټول د دوی دلاسه تللی وو بدرنگ
که بابر و کړ و گذار په یو پښتون — پور یې وا خستو شېر شاه له همایون
خوا فسوس، نن هغه ملک د تور یا لو — نیمائی پروت دی په لاس کښی دپردو

«یا هغه پښتانه نورو و داڅه نوردی»
«یا دخدای دی په داهسی شان فرمان»

ښاغلی غلام حبیب نوابی؛

آغازمه وایه انجام ووایه

د عاشقانو، پیره مرشده !

زه لېونی کړم، مینې بیخوده

بلبل ته گوره چه ځان مینوش کړی نسیم د صبح داسی سروش کړی
غافله پا څه د نیا و گوره بلبل راغلی جوش وخروش کړی
ستر گې دې واکړه جهان بل شوی څه وخته پوری پېښې د هوش کړی

ماته و گوره چاته مه گوره

آواز زمادی که څوک ئې گوش کړی

خیبر دپاسه گلان شنه شوی

شهید له لاسه لاله سره شوی

بلبله لاړ شه پیام و وایه په ښایستو کو سلام و وایه
زما له حاله که ئی پوښتلې آغازمه وایه انجام و وایه
بهار چه راشی لیونی کیږم احوال می یار ته تمام و وایه
که رغوی می د زړه زخمونه ور ته د مینی پیغام و وایه

هردم شهید یم احوال می واخله

په زړه نومید یم احوال مې واخله

رحمان مزار کښی گلان غوړ یږی غوټی د زړو نوهلته وا کیږی
زما بهاره ! زما نگاره زما له ستر گو اوښکی تو ئیږی
که ته می باغ ئې گلان به وشی نا کامه زړه به زما سړیږی
دلته که راشی داستا وطن دی او مه زړ گوتی پتا پخیږی

دا گلشن ستادی، دا وطن ستادی

دا دمن ستادی، دا چمن ستادی

رحمانه غرق چه، په ثنا ستا یم په پښتو ژبه ځکه گویا یم
د ادب لمره راغلم ستا وره ته کچکول په غاړه د عشق گدا یم
رباب مې مات دی نغمه بی سوره پیر د رندانو! تا لره وا یم !
چه مینه څه ده؟ په حال می پوه کړه په پټو ستر گو نغمه سرا یم

حبیب نواب یم خوستا کباب

هم دی غزل یم هم دې رباب یم

ښاغلی محمد صدیق پسرلی؛

د رحمان بابا په یاد

نیمه شپه وه سپوږمۍ سپینی رڼاته — اشارې کړی لکه ستور و ګلوماته
نوراوبڼ نقل پاشی غوندې برتاوې — ښه تاوان آخیست کیده له تېر حیاته
مېلمستیاوه د بلبلو، که د ګلو — شوم حیران چه تشکر و وایم چا ته
شېرینی وه د ګلاب، شور د بلبلو — ګرزول لاله بامونه شاوخوا ته
د ازغو په سیخ پېیلی سوی زړونه — بلبلانو راوړه دې د کیف د نیاته
څومی واورېدې، سرشاروم ددې بزم — د بوه بلبل د درد چیغی اشناته
دې د غم نواله هر څه بیګانه کړم — دغوټۍ غوندی ئی یو غوږ شوم نواته
تا به وی چه سرې لمبې ئې دی په خواله کښی — په چمن کښی خندا ځای پرېښود ژړاته
ګل ترخولې هم شو ورتېر چه دلاساشی — خود ده نه شوه په اوښکو تنده ماته
ورنژدې شوم د زړه سوی په تقاضا زه — وی می، پوه می کړه بلبله له دې رازه
چه وصال کښی دې زړه خون دی نه پوهېږم — غم د نن، که د پرون دی نه پوهېږم
ګل دی غوښت چمن د ګلو در ته خاندی — بیا دی تریخ په څه ژوندون دی نه پوهېږم
نن ګلشن دی مصور دیوان د مینې — که د حسن نندارتون دی نه پوهېږم
جوش دو نو، غنو د اسوال را پیدا کړ — چه دا مځکه، که ګردون دی؟ نه پوهېږم
ګل دی دومره خاطرخواه دی په ښایښت کښی — چه لیلی ده، که مجنون دی؟ نه پوهېږم
په دا هسی ښه موسم د ګل جوشۍ کښی — ستا خاطرولی محزون دی؟ نه پوهېږم
په وصال کښی ژړا کوم دودود ستور دی — په جنت کښی شوا خون دی نه پوهېږم
دا آواز ئې کړاوچت د زړه له سوزه — «خواب وخیال دی، که افسون دی نه پوهېږم»
«عشق په هسی رنګ مقام باندی قایم کړم — چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهېږم
رامعلومه هغه ورځ شو له رحمانه! — چه بلبلو هم اخستی اور له تانه!

رحمان بابا ته د عقیدت مندۍ خطاب

د نظر کیف دې میخانه کښې نشته — له میو ډکو پیمانو کښې نشته
په یو نظر دې کړه د نیا په بله — دو مره قوت په زمانو کښې نشته

راغلی میدان نه آب و تاب سره
ډك له شور شه انقلاب سره

په صدفو نو کښې پیدا به نشي — آملغلرې چه دې تا پیلی
کومه پرده کښې چه آهنګ شي پورته — ستا له دبه هغه فیض مندلی

ساقی د فیض ئې انسانانو لره
بیا خصوصاً دې افغانانو لره

دادب لاره کښې ئې پلار دادب — دادب بن له ئې بهار دادب
ستا د شعرونو له کیفو نو ځنی — ښکاری په ستر ګو کښې خمار دادب

دیوان دې ډك دی له کیفو نو ځنی
دمینې عشق خو زو د رسو نو ځنی

تا دادب چه کوم تعمیر جوړ کړی — د عشق او مینې دی تصویر جوړ کړی
ای دادب د آسمان لمره بابا! — تا د افغان و یجاړ ضمیر جوړ کړی

ټول پښتانه دې په پښتو پوه کړی
په خیر او شر د زمانې پوه کړی

د زمانې اورنګ هم ستا غلام دی — له دې مقام نه دې هم لوړ مقام دی
د زړه تیاری دی رڼا کړی په عشق — په لاس د ستا کښې روحانی زمام دی

په دې جهان کښې شاه جهان ئې زمونږ
ځکه بابا عبد الرحمن ئې زمونږ

ښاغلی محب الرحمن هوسا :

درحمان بابا په نوم

د آری نژاد تبره — په باطن قوی تر غره
ستا رڼا شوه جلوه ګره — هم د لرا و هم د بره
پښتون خواشوه بختوره — له یوه سره تر بل سره

طبیعت نن د کرګون دی
یوې بلې خوا ته یون دی

نوی ژوند نوی جهان شو — د تهذیب جهان و دان شو
بهار راغی تیر خزان شو — ډک د ګلو ګلستان شو
پښتنی حال بیا عیان شو — د غلیم د زړه کور وران شو

جوړ په هر شی کښی بدلون دی
یوې بلی خوا ته یون دی

پښتانه په ډیره مینه — هم په ډیره تو ده وینه
په تجلیل تا یا دوینه — ستا په نوم فخر کوینه
خبروی ټول ستا له تلینه — چه تر یا ده شی ستا مړینه

نن دا عزم د پښتون دی
یوې بلې خوا ته یون دی

څو ژوندی پدی د نیا یو — په قومی مینه به پا یو
قومی ژوند هر کله ستا یو — پدې مینه کښی هوسا یو
دوروری سند رې وایو — ور ورولی د نیا ته ښا یو

دا زمونږ قومی ژوندون دی
یوې بلې خوا ته یون دی

ښاغلی م، ننګرهاری:

تړون

هرلاله لری د سرو شرابو جام — هر بلبل سره نظر دی د خیام
هر صحرا کښې بوی د عشق د لیونتوب دی — هر محل د لیلی ښکاری د روبام
نن ګزر د ځوانۍ وینم په دی لوری — په مزه مزه را د رومی په خرام
نن دهری تا ترې نه وینی څاڅی — او په هر مغول تړلی ښکاری لام
قافلی د رنګ او بوی دی بی جلبه — د خیبر په کښ لیچو نو کښی سرسام
بیا چپې په ابا سیند کښی لیونۍ دی — او باړه جمرو د ور د رومی په سلام
بیا د مینې په کور حسن را ښکاره شو — بیا مستۍ په لاس کښی و نیوه زمام
په هر لور تاندې ځوانۍ دی جلوه ګری — د سپوږمۍ د ګلګشتو نو دی ایام
خبروم به پرې خوبان د سر بند و نو — را بلم به ورته ترکی د بګرام
هزار ناز او کرشمی دی دامنګیرې — په هر دم په هر قدم او په هر ګام
په زر ګونو ګریوانونه دی چه شلېږی — له مستۍ نه هر سهار او هر ماښام
واړو دی د رنګ او بوی لباس اغوستی — دا چه لوڅ ښکاری نازک او ګل اندام
خدایه او رواخیست دې شنو شنو چمنونو! — که دا سور شفق هم و نښت په دې دام
دا شنه غرونه سره ګلونه سپینې واورې — نن هر هر وطن کشمیر ښکاری هم شام
دا تصویر د څه ځوانۍ د تازګۍ دی — چه په ناز نخره کښی نغښتی دی تمام
خدایه دغه رنګینۍ د کوم نظر دی — کائنات چه ئې ګلفام کړل می آشام
نن ښادی له غمه هو مره لرې و تی — لکه لرې چه آزاد وی له غلام
نن په هر نظر کښی برق او تازګۍ دی — نن زما زړه کښی هم شته د ژوند مقام
ځکه زه هم نن یو څو ساده خبرې — رنګو مه د بهار په دی پیغام
دا خپل حق ګڼم چه و ګورم بهار ته — او قبول د طبیعت کړم دا انعام
او دا حسن او ځوانۍ د اخمارونه — یو یو راولم له ستر ګو لاندې تام
ځکه ستر ګی دی د حسن نندارو له — او بهار دی د خلقت دعوت عام
په ګو ګل د ننه ما سره هم زړه شته — او په زړه کښې می د مینې شته الهام
هغه ماته په ژړا او واویلاوی — هغه ماته پیغورونه کړی مدام
وائی وایه ستا ځوانی او بهار کوم دی — کوم دې نور کوم دې سرور کوم انتظام
ستا چمن خوماونه لیده په ستر ګو — کوم دې باغ کوم دې ایاغ او کوم دی جام

تا دخپلی ځوانی باغ کښی کوم گل بوی کړ — تا د کوم محبوب له وصله واخست کام
کوم کاروان د نور سرور او د خندا دې — په وطن کړی ترا وسه دی قیام
وایه کومه دې بهار کښی ده ستا برخه — وایه کوم چمن کښی تا واخست یو گام
وایه کوم خوب دې د خپلی ځوانۍ ولید — دا چه ته ئې تمام عمر په منام
وایه ته به په څه ویاړی په خپل ژوند کښی — پس له مرگه به په څه وی ستا اکرام
وایه ته چه سهار لاړ بیگار اشی — تا د گلو کوم امیل راوړ انعام
وایه ته کومه ده ځولۍ د گلچینۍ دی — تا سره د گل د بوی دی کوم مشام
وایه ته د کومی شمعی پروانه شوې — ته منصور شولی د کوم یو دار په بام
وایه تا په څه کښی ځان دی ستړی کړی — دا چه اوس داسی ضرور گڼی آرام
دا چه هر بهار په څنگ درځنی درومی — وایه څه به وی د دی میر و انجام
دا گیلی او دا مانۍ دا پیغور و نه — له لمنی نیسی ما په هر هنگام
اخر ما سره ملگری اند یښنه شی — د خپل ځان او د خپل ننگ او د خپل نام
زه خو هم لرمه خوله په خوله کښی ژبه — زه آرزو لرم او غواړی اهتمام
نو دا یاد لریء زمونږه دا تړون دی — او همدا کو و اعلام بعد الاعلام

یا پښتون به وی خپلواك په خپل وطن کښی
یا به یو پښتون هم نه وی والسلام . . . . .

ښاغلی دردمند:

دبهار منزل او شاعر

د پسرلی د کاروانو نو منزل — د رنګ او بوی او سامانو نو منزل
د مینې جوش دزړه جهان خوځوی — لکه بریښنا په آسمانو نو منزل
چه قافلو ئی غږ ته غوږ نیولی — کوی نظر، دارمانو نو منزل
د ګل خنداد خوشبوئی په ژبه — وکړ نسیم په میدانو نو منزل
د باڼو ګانو په سر او ښکی د چا — کوی هیلی د اعلانو نو منزل

ساقی نشې دې نوری پټې ساته
زمونږ جهان دا سویلوډك دی
د سپینی غرې په سر دستور و مجلس
خیبر د لو یو قافلو ډك دی

په تخیل او انتظار کښی مستی — د کال ځوانی ده ننداری مستی
په پلو شو کښی تماشی د ښکلو — د حسن لوبی اشارې مستی
چرته روانی هنګامی د شاعر — ستر ګو لید لی منظری مستی
خوب او ارمان له انتظار تښتی — فکر تازه کړې خاطرې مستی
په راز او ناز او تبسم د ښائست — په عشق او مینه دې میرې مستی

راغی په ملك د شاعری پسرلی
ځکه ستاینه د رحمان کوی
دا دادب د شهکاری پسرلی
مشاعری اوس شاعران کوی

خوږ واو منلو ملګرو!

زه ګمان کوم چه ستاسی دا جذبات او د ستاینې وړ علاقه چه رحمان بابا سره موڅر ګنده کړه د کابل راډیو تشکر ته ضرورت نلری. ځکه چه رحمان بابا د ولو پښتنو بابا او بې تخت او تاجه د پښتنو د زړو پر تخت ناست دی لکه چه وایی:

د پېړۍ او د پالنګ حاجت ئې نشته
د یارانو نشستن د زړه په تخت دی

خوزه د کابل راډیو له خوا باید له یو بل لحاظه تشکر و کړم او هغه دا چه تاسی پخپلو خوږو اشعارو زمونږ د ننني شپې پروګرام رنګین کړی او د کابل راډیو دا روېدونکو او د رحمان بابا د روح خوښی مو حاصله کړې ده، نو زه بیا ستاسی څخه تشر کوم او دا پروګرام پر دې ځای ختموم او اوس په خپل پروګرام شروع کوو.

د کابل راډیو رئیس

ښاغلی سید شمس الدین مجروح:

شاعر اوجا معه یار حمان بابا اوپښتانه

پخوانی یونانیان دعلم او ادب
ډیر شوقیان و، دنورو معلوماتو
په ترڅ کښې ئی دخپلی ژبی
ادب او گرامر ته ډیر اهمیت
ورکاوه او دهرچا قدر او منزلت
دده دعلم او دده دفصاحت په اندازه ؤ
ددی ضرورت په ښایو سړی
کومه ورځ یو فیلسوف ته ورغی
او دهغه نه ئی وغوښتل چه ده ته
دادب درس ورکړی، فیلسوف
استاذ هغه ته درس شروع کړاو په
لمړی سبق ئی داشان پیل وکړ:
شعر او ادبی کلام په دوه
قسمه دی:
اول ـ نثر
دویم ـ نظم
(نثر هغه ته وائی چه وزن
او قافیه و نلری لکه عادی
اوروانی خبری چه زه اونه ئی
سره کوو او نظم ...)
شاگرد وویل استاذه!
داخبری چه زه کوم داهم نثر دی؟
استاذ: ـ هو!
شاگرد: ـ نثرهم په ادبی
تقسیما تو کښې شامل دی څه؟
استاذ: ـ شامل لاڅه چه ډیر
مهم رکن دی.
شاگرد: ـ نوزه خو ادیب یم
او اد بی کلام وایم حاجت می
لوستلو او زده کړلو ته څه پاته شو
په خدای سپارلی.
سړی لاړ او استاذ په خندا
شو، گرانو لوستونکو! گوندې
تاسی له هم خندا درغله؟ مگر مه
خاندئ، او هغه یونانی خوار کی
مه غندئ، زما په گمان هغه یو لوی
حقیقت ته اشاره کړې ده او هغه
حقیقت دادی چه واقعاً هر سړی
ادیب او هر سړی شاعر دی څوك
بی له دې چه گرامر ولولی خپلی
خبری دگرامری قواعدو سره
سمی کوی او هر سړی بی له دی
چه منطق ووائی دسلیم عقل په
برکت هو ښیار او مستدل گرېږی
داشی هم بی له دی چه سړی
دعلم الجمال فلسفه لوستی وی دښکلا
او ښایست نه خوند اخلی او په
خپل ژوندانه کښې لږ یا ډیر
دښکلا او ښایست دپاره کار و
خدمت کوی، دعالم او عامی
په مینځ کښې فرق دومره
دی چه هغه څه چه څوك وائی
(ژبه) او هغه څه چه څوك
خوښوی (ښایست) دگرامر
پوهان او دعلم الجمال ماهران دهغه
قواعد او ضوابط راغونډوی او د
انسانی میل او روش مجری
او اسلوب معلوموی او ځان پری
ملاکوی او بیا داخبری په مونږ
اوتاسی په ډیر آب او تاب دیوی
نظر بې په نامه په ډیرو نخرو
خرڅوی او یا په هغه دیو مستقل علم
عنوان ږدی او هغی ته فلانی
پوهه او (بستانی لوژی) وائی.
هر انسان په ښکلا مین او
دښایست ستاینده وی دی، هر سړی
دښکلا تږی او دښایست وږی
دی، هر څوك ددنیا دکار او بار
په توده هنگامه کښې کله کله
عالی مبادیو ته مخ اړوی او د
کاینناتو په اسرار او رموزو کښې
چورت وهی. دا مشاغل او دا
ناوزگار تیاوې چه دژوندانه سره
ملگری دی نشی کولی چه سړی
دی دعالی مبادیو نه لکه اخلاق
او جمال حقیقت اوغا یه همیشه
غافل وساتی هر سړی د ریالیزم
دوچو او کلکو حقایقو نه

ایدیالیزم دتصوری او خیالی دنیا شنو
او زرغونو باغونو ته پناه وړی
هر څوك سره ددې چه ظواهر دده
ستر گو ته نیغ نیغ کیږی او دده
ټول فکر ذکر په دی ظواهرو
بوخت دی خو بیا هم دباطن عالم
دده په مغزو او دده په سینه کښی
ورته پورته پورته کیږی . ددی
خبرو حاصل دادی چه هر سړی
یوه فلسفه لری ، هر سړی شاعر
دی او یوه معشوقه لری ، او هر سړی
(خدای می دی غاړه نه بندوی)
دتصوف صبغه لری .

انسان دهر څه نه لمړی شاعر
دی غوږ کیږدیء زه به د دی
فرضیی دثبوت دپاره تاسو ته خپل
دلایل وړاندې کړم په هر قام
کښی هومران دسقراطانو نه
مخ کښی دنیا ته راغلی دی
یعنی دانسان د کلچر په ابتدائی
مراحلو کښی هغه وخت چه عالم
او فیلسوف لانه ؤ پیدا شاعر
موجود و ، دده وینا او دده شعر
دده نظریاتو او دده خیالاتو ، دانسانی
جامعی په تکوین او تکمیل کښی
لویه برخه درلوده دوی دټولنی
روایات راغونډول ، دوی دانسانی
جماعتو اساطیر (متالوژی) په شعر
کښی داخلول او نظم کول ، دوی
دخپلی زمانی پوهه او معارف
دخپلی زمانی او دخپل ولس
مفاخر او فضایل په خپلو اشعارو
کښی ذخیره کول او هغه ئی ساتل
او بیائی داټول بل نسل ته سپارل
یائی بل جمعیت ته نقلول ، دوی
دژبی دروزنې او ساتنی وظیفه
په غاړه اخستی وه ، دوی دژبی
د تکامل او ښایسته کولو
ذمه واری لرله ، ددوی له برکته ژبی
له بدوی حالته متکامل او عالی
مرتبو ته رسیدلی او له فنا او له
زواله ساتل شوی دی
دوی د انسانی جماعاتو دنورو
ضرورياتو دپاره غټ غټ خدمتونه
او لوئې کارنامې ښودلی
دی که انسان جنگ ته ضرورت
لاره دوی ورته حماسی سندری
ویلې دی او د دوی سندرو
د تورونه زیات زلمی مرگ
ته ور کړی او زیات خلك ئې
وژلې دی ، آهنگر توری او ده
اشعار جوړول خو دهغه مصنوع
دده د موزون سره مقابله نشوه
کولی که بنیادم کله په
خپل نفس کښې سر ښکته کړی
او دفکر او طمانیت دنیائی لټولی ده
ده بیا هم دوی دهغه سره کومك
کړی او دروح دطمانیت او
دعالم دحقیقت فلسفه ئی ورته په
شعر کښی ویلی ده ، یواځی هومر
له سقراطه مخ کښی نه دی په
هره جامعه کښی داسی مثالونه
موندلی شی ، داسلام دظهور نه
لمړی دبیت الحرام په کتابخانه
کښی یواځی (سبعه معلقات)
ایښودشوی و ، او عربو دهر کتابه
مخکښی داکتابونه لرل .

داو ، داجتماع تاریخ راشی
چه اوس دفرد سوانحو ته
مراجعت وکړو . دفرد په حیث
هم دهر انسان په سوانح حیات
کښی یو دوه دری بیته یا لنډی
یا دول یا خو طفلانه مقفی او
مسجعی جملی زده کول د کسب
او کار او علم او پوهی دیادونو
نه لمړی دی دبرگو کو دنو او
ښایسته تیږو او مریو ، شنو زرغونو
بڼکو رواج دا طفالو په مینځ
کښی دسرو او سپینو دسکو
درواج نه لمړی شروع کیږی
نو اوس خو مورا سره ومنله ! چه
انسان دهر څه نه لمړی شاعر دی ،
انسان خپله داشاعری او
جمال پرستی په دوه توگه

څرګندوی او ددې خاصی
دظهور قانون په دې ډول دی:
که ښکلا کمال ته رسی
انسان بی اختیاره دهغی ستاینه
کوی او دهغی ثنا او صفت وائی
او شعر او موسیقی تر ې
جوړه شی انسان ښکلا ته لا کله کله
خوشامندې کوی او ور ته پورته
پورته غورزی نو دنڅا او اتڼ
نوم پرې ږدی او که ښکلا دجلال
قبا واغوندی انسان دهغی په
مقابل کښی داحترام سر ټیټوی
او دعبودیت سجده ور ته
ویله شی، هم دا سبب دی چه مونږ
دجمال مطلق دربار ته
(جل وعلی شانه) همیشه د نیاز
سجدې وړاندې کوو او دهغی
نه خوند اخلو اوس پوه شوی ء
چه هم دا دجمال دوستۍ تنده
ده چه مونږ ئی په شعر ماتوو او
هم داد آرزو ګانو دلمبو نه
ډکه سینه ده چه په دې روانو
او بوئی سره وو؟
کله چه سړی دشعر دیوان
بیرته کړی او دکوم لوی استاذ
اشعارو ته مخ واړوی دی ګمان
کوی چه هغه دده دزړه خبرې
کوی، دی هله پوه شی چه هغه

مرموز کیفیات چه دده دسینی
په پنجره کښی لکه بنده مرغۍ
همیشه دانګونه وهی او وزر
پړقوی ناڅاپه دالوتلو فضا پیدا
کړی او دجولان ساحه ومومی
دی هغه مبهم او ناقابل تفسیر
خیالات چه همیشه ئی لکه
نازېږیدلی جنین دمغز وپه رحم کښی
ګرزوی ناڅاپه ددی قابلی
(شاعر) په برکت دحیات
په ساحه کښی داخل او شامل
ووینی او هغه پیدا شوی مولود
ورو، ورو ودې وکړی او
دقطرې نه دریاب جوړ شی.
دی دخپلو فکرونو او چورتونو
دپاره چه دعالم په اسرارو کښی
ئی لری روښانه او واضح تعبیر
دهغه له خولی واوری، دی دخپلو
صوفیانه خیالاتو دپاره چه لکه
روح مجرد دده په مخیله کښی
پراته وو او نه ئی خولی ته راتله
او نه ئی پری لاس لګیده په دی
شعر کښی تن او قالب بیا مومی
او دده په مخکښی مجسمه شی.
لنډه دا چه دا سړی دخپلو ټولو
دردونو، غمونو دپاره نوی شکلونه
سمبولونه پیدا کړی او یا دخپلو
مزو او خوندونو دپاره تازه او

بکر تعبیرونه لاس ته راولی او
دخپلو آرزو ګانو او هوسونو
دپاره په زړه پوری مجسم مثالونه
ووینی ګواکې دی دشاعر په
آینه کښی ځان وګوری او
دخپل ځان دلیدونه خوند
واخلی، خپل سر او صورت ددی
آینی له مخی جوړ کړی او خپلی
آرزو ګانی پالش او آرایش
کړی، دی ددی آینی په برکت
دعقل سترګی توری او دخیال
شونډی سری کړی او دخپل
شخصیت له مخه ناوړه داغونه
ووینځی، هوښیارانو ویلی چه: دزرو
قدر په زرګروی او رښتیا ئی
هم ویلی نو که په انسان کښی
دزرګرۍ قریحه او دشاعرۍ
صبغه نه وی ده به هیڅکله ددې
زرو قدر نه کولی، همدا سبب
دی چه مونږ تاسی ټول شاعران
او دښکلا مینان یو، نو ځکه درحمان
غوندی خلکو قدر کوو او دهغه
ویناوی لکه: دسروزرو په شان
په مونږ کښی رواج پیدا کوی.
وګوری ء! څوک چه ستاسی
دزړه خبری کوی او لسان الغیب
ئی بولی ء په چا کښې چه:

پاته په ۲۷ مخ کښی

د ۲۶ مخ پاته

تاسې خپل ځان وینئ او بیا هغه ته رحمان وایئ، د کومی آینی له برکته چه تاسی ځان سینګار وئ او د مهذب انسان حیثیت اختیار وئ د چا له خبرو چه تاسی خوند اخلی او د دنیا غمونه پری هیر وئ څوك چه تاسی د دنیا د دی زوږ له کړاوه د یو عالی مبدا قلارې قلارۍ ته بیا ئی، کوم سړی چه ستاسی ارواح د جمال محراب او د ښکلا کوټکی ته رسوی انصاف وکړئ داسی کسان به په تاسی څومره حق لری؟!

نو رحمان بابا هم په تاسی د اټول حقونه لری او پښتانه ښه کوی چه کال په کال د حمل په اولو ورځو کښی د پښتو نخوا په هره خوا کښې هغه یادوی او د هغه په یادو مجلسونه کوی پښتانه حق لری چه د ده دیوان په هر کاله کښی لاڅه چه په هر زړه کښی محفوظ وساتی او رحمان حق لری چه پښتانه ورته بابا ووائی او د ده په مزار د زړه له کومی دعا او ثنا ولولی. رحمة الله تعالی علیه

ښاغلی پکتیانی

د تیر ویاد

لکه د خوب د لیدلو یاد، داسی را په زړه شی کله چه لمړی ځل زه پلار او مور ملاته د سبق ویلو له پاره لېږلم نو یوه سپاره ئی راته اخستی وه چه: «قاعده بغدادی» نومیده... اګرچه زه د سپاری په تورو نه پوهېدلم خو ژړی پاڼې ئې ښې راته ښکاریدلې، ځکه چه (هر نوی شی وائی ښه ایسی پرته له مرګه) نو ټوله شپه د سبا په انتظار کښې ډیر وخت ویښ وم او په دې شوق چه سبا ته به ملاته ځم او خوازه به هم ویشل کېږی زه به ئې هم وخورم سبا ته ئې ملاته بوتلم او ورته حواله ئی کړم، ډېر خوازه وویشل شول او ملاته لکه چه زما پلار پګړۍ هم ورکړه په هر حال بسم الله خومې کور کښې هم زده وه نو الف، ب، ت، ث زما سبق شروع شو.

بیا مې نور څه نه دی یاد خو نه پوهېږم څنګه شو، چه ملا رحمو زمونږ د کلی ملا شه؟

اصل نوم ئې عبد الرحیم ؤ خو خلکو به ملا رحمو باله.

داوخت زه هم د لوبو او بېډیو او مرد کیو شوق من وم.

ملا رحمو... اوس هم چه را یاد شی له ویرې مې ویښتان نیغ و دریږی... ځکه ملا رحمو زښت ظالم و، حتی مونږ به ئې د سبق له وخته وروسته هم لوبو ته نه پریښو د لو او سترې ګېډئ د وهلو لښتې به مدام ده زمونږ له پاره د جومات په کونج کښې ساتلې وې، په لږ پلمه هم زمونږ کار خلاص و، او د وه درې لښتې به ئې زمونږ په لاسونو او پښو، ډډو را ماتولې، د ملا رحمو وهل د ښوونکی غونډې نه و، بلکه د ده وهل د جبار و حاکمانو په شان وو.

زمونږ د یوه همزولی چه هم سبق موؤ، روغه او چالانه ژبه د دې بې رحمه ملا رحمو له ویرې او وهلو څخه تړۍ شوه تر اوسه لا همدا عادت ورته پاته شو...

ځکه چه ملا رحمو به په قهر او جبر و تی حال کښی امر پرې وکړ چه:

وایه زوړ سبق دې څنګه دی!
ذوت کړې دې دی او که یه؟!...
دهغه بې وزلی ماشوم ژ به
به له ویرې تړی او بنده شوه
اورحمو به د لښتو باران پرې
جوړ کړ...
یوه شپه مې پلار راته وویل چه:
ز منه! په مکتب کښې دې
آچوم.
اګر چه د مکتب نوم هغه
وخت داسی تورو، چه هیڅوك
هم نه حاضر ېدل خپل زوی مکتب
کښې داخل کړی. خوز ما پلار
دنورو خلکو په خلاف په خپله
خوښه حاضرشوی ؤ چه زه باید
په مکتب کښې تحصیل وکړم.
کلیوالو او ځنو نورو به زما
پلار ته وویل چه: ولی دا خپل
نازولی زوی مکتب ته ور کوی
څه روزی خونه ده در باندې
درېدلې ...
پلار به مې ورته وویل چه:
تاسې عجب خلك یې ... د لته
دروزی او نورو سوال نشته مګر
زه پوهېږم چه مکتب ښه دی
او مکتب د یوه ملت له نوې
طبقی څخه سړی جوړ وی
دتعلیم او تربیې خاوندان شی

په دین او دنیا خبر ېږی، دا کومې
پرړې او پروپا ګنډی چه په مکتب
پس کېږې او یا شوی داخو
دپښتون د ښمنانو کړی دی....
زه د خپل پلار په تشویق
په خوښی مکتب ته چمتو شوم
او خاص غرض می هم دا ؤ چه
دملا رحمو له ظلم څخه به خلاص شم.
وختې چه مکتب ته داخل شوم
هلته هم برګ آتن ؤ ځنې
معلمان ښه او دنوی تعلیم او تربیې
نه خبر ؤ نو په ښه توګه
به ئې درس هم راکاوه او ځنې
دملا رحمو ورونه چه دمعلمینو
کمبود دوی ته هم موقع ور کړی
وه و، چه هغوی هم له وهلو ټکولو
سره جوړ ؤ او ددی ملا صاحبانو
په فکر چه شاګرد هر څومره
وهل ټکول وزغمی او هر څومره
ئی جرئت او استعداد خفه شی
همدومره به مفیده نتیجه ولری!..
خدای دی د دوی نوم ورك
کړی او س مې هم ترهه ور څخه
کیږی خو چه کله به ئې زمونږ
پښې په (پله ته) کښې راسکیل
کړی نو توبه توبه.... په ښوونځی
کښې به ئی دتفریح په وخت
کښې د پنډوسکی لوبه هم

راباندې کوله.... چه له ښوونځی
څخه به رخصت شولوا و کورته
به راغلو بیا به دظالم ملا رحمو
راج راباندی جاری شه او دی
په دی عقیده ؤ چه مکتب خو عبث
څه بلکه مضر شی دی او له
هلکانو څخه دبلې عقیدې خلك
او بل څه ور څخه جوړوی..
او کله کله به ئی دنورو مضراتو
دبیان څخه علاوه دا هم راته
ویلی چه: په مکتب کښی
دا د پنډوسکی لوبه چه کوی
نهایت «عظیمه» ګناه ده ځکه
چه په پخوازمانو کښی به کفارو چه
دمسلمانانو اصحابانو سرونه
پرېکول نو بیا به ئې پنډوسکی
ور څخه جوړولی او لوبې به ئې
پرې کولې. نو دالوبه هم
د کفارو ده!...
تاسی په خپله تخمین کولی
شیء چه په یوه تمامه معنی
دمذهبی کورنی او محیط تربیی
او دملا رحمو دې تلقین به په
مونږ څه اثر کاوه!؟!...
هر وخت به چه په ښوونځی کښی
دتفریح وخت شه او یا به دپنډوسکی
لوبه شروع کیدله نو فکر به مو
کاوه چه یا خالقه! دا څه ظلم دی؟

چه په مونږ د کفارو لوبی کوی او دپاکو اصحابانو سرونه په لتو راباندې وهی . . .

یقین وکړیء چه ډېر ځله به پنډوسکی زما په نظر کښې لکه پرې کړی سر داسی برېښیده چه سترګې غوږونه او اوږده زېره به ئې هم پیدا کړه . . . .

خدای دی وبښی یوازی پلار به می تشویق کولم او ویلی به ئې چه : دا خبرې ټولې غلطې او خرافات دی مکتب ته دوام ورکړه .

لکه چه هر څه تغیر مومی همدارنګه زما پلار هم ملا رحمو ځواب کړ یعنی کډه ئې ورپه شا کړه او دهغه په ځای ملا خاټول آخوند راغی زمونږ ملا شه .

د ملا خاټول آخوند په باره کښی اوس هم چه فکر کوم دومره دبد ویلو سړی نه و ، دښوونځی سره ئې هم وښکلی توره بدی نلرله خوور سره ئې مذهبی تعلیم زښت ضروری ګانه دپنډوسکی په باره کښی به مو هم چه پوښتنه ورڅخه وکړه ویلی به ئې : زه نه پوهېږم شاید عبث غوندی څه وی.

ملا خاټول آخوند سره له دی چه ډېر او بی سببه به ئې نه ډبولو په شوق به ئې سبق را باندې لوستلو، کله کله به ئې کیسه او ټوکه هم راته کوله چه همدی مونږ له ده سره نژدی کړی وو او په مینه به سبق ته راتلو .

هو!... ښه مې یاددی چه یوه ورځ ملا خاټول اخوند داسې کیسه راته کوله :

بچو ! آخره زمانه به راشی د پسه سر به په یوه طلا خرڅیږی.. (پوهو ... یوه طلا ... او د پسه سر.)

مونږ په پوښتنه ورڅخه وکړه چه: آخوند صاحب! یوه طلا څورو پی ارزی ؟ .. ده به راته ویل چه یوه طلا نه، لس روپۍ بیه لری .

بله ئې دا کیسه کوله چه: آخره زمانه به راشی چه د ټولې دنیا خلك به بې اتفاقی، حرص نه لورینې او نورو په اثر جنګ جګړو کښې محوه شی نو په ګرده نړۍ کښې به دوه کسه پاته شی طلا، الماس، جواهر او هر قیمتی څه چه دی همدې دوو کسو ته به پاته وی او دوی به د دنیا ټول دولت را جمع کړی او سترې غونډۍ به ورڅخه جوړی کړی او یو به د یوې او بل به د بلی په سر ناست وی، دوی دواړه به هم یو بل ته کری ریبی او یو بل ته به غله وی چه څنګه دا بل پوپنا او ورك کړی چه ټول دولت او دنیا یوازی ده ته پاته شی ؟ او ځکه به هم مناسب وخت او موقع یو بل ته لټوی .

بالاخره یو بل ته ووائی چه: وروره ! دواړه ډیروزی یو ته له مانه لږ څه بازار ته لنډیی، لاړ شه زه به ستا دولت هم ساتم ډوډۍ وخوره ځان موړ کړه او ماته ئی هم درسره راوړه ... (په دې کښی ئې مقصد داوی چه هغه لاړ شی او دده دوژلو له پاره کومه قتاله اله پیدا کړی) .

ها بل دا غوښتنه په خوښۍ ومنی او بازار ته لاړ شی خپله خیټه ښه ډکه کړی او بیا په هغه ډوډۍ کښې چه خپل ملګری ته ئې وړی زهر قاتل ګډ کړی چه په دی وسیله دهغه بل له شر څخه ځان خلاص او دنیا دولت ټول ده ته پاته شی ...

پاته په ۳۰ مخ کښی

د خان عبدالصمد خان محاکمه

خلکو چه پاکستان سره مینه
او علاقه لری دا وظیفه ده چه
دې صورت حال ته ځیر شی، دا دی
زمونږ هغه مقاصد چه د هغو په
لاس راوستلو د پاره مونږ زیارونه

د ۲۹ مخ پاته

وختی چه بیرته راشی هغه بل
ملګری ئې (!) لا پخوا خنجر
ورته تهیه کړی وی فوری په هغه
حمله وکړی او مړئی کړی ...
له دې عمله وروسته سوړ او
د خوښۍ اسویلی و کاږي او
چټکه هغه ډوډۍ هم راواخلی او
ووائی چه : اوس ټوله دنیاز ما
ده، او یوازی زه د ټولی دنیا مالك
یم... نو په ذوق او حرص سره
د زهر لړلې ډوډۍ په خوړلو
پیل وکړی، دی هم څو دقیقی
وروسته راپرېوځی ... او دنیا
لکه څنګه چه د چانه ده دده په
نصیب هم نشی او مړ شی !! ...
داوه د ملا خاټول آخوند کیسه..
د پسه سرخواوس د ملا خاټول
آخوند له طلاء هم قیمت خرڅېږی
نوستا سې خوښه چه آخرت
ورته وائی او که یه ! ...
خود دستر ې کیسې حقیقت ئی
هم سړي په حیرت کښی غورځوی .

۷ برخه

با سوا و ددې مقدمې شانه
هم همدغه اسباب کارونه کوی
لنډه دا چه :
مسلم لیګ د اقتدار د لاس ته
راوستلو سره سم په دې کوښښ
پیل وکړ چه په پاکستان کښی
دیو جماعت اقتدار قایم
وساتی، زه ددې موجوده برسر
اقتدار جماعت د نوم بدلول
کوم اساسی کار نه ګڼم او له
دې نوم څخه په ښکاره او واضح
ډول ددوی خودغرضی او تنګ
نظری معلومېدلی شی، لکن ددوی
له دې کار څخه دا نتیجه ضروری
او حتمی ده چه دی جمهوری نظام
ته سخته صدمه ورسېږی او
رسېدلې هم ده چه په دغه صدمه
کښی د نورو په نظر یا تو پوهېدل
او نور سیاسی جماعتونه په خپل
پروګرام کښی شاملول او دغه
پروګرام عوامو ته رسول او
په دغه لیاره کښی د هغو څخه
مرسته او کار اخیستل هم
شامل دی .
مسلم لیګیانو په ډېر زیات
فریب دا انتهائی کوښښ وکړ
چه اسلام، پاکستان او مسلم لیګ
دري واړه خلکو ته د یوشی
په ډول وړاندی کړی
همدغه راز ددوی په نظر کښی
هغه سیاسی اختلاف چه د جمهوریت
د امتیاز یوه ښکاره نخښه ده
دغداری مترادف کاردی.
د ډېری حیرانتیا او تعجب
وړ خبره دا ده چه مسلم لیګ
د پاکستان د جوړېدلو څخه
ډېر وړاندی یعنی په هغه وخت
کښی جوړ شویدی چه په دغه
وخت کښی دوی د خپل دغه ډول
اقتدار څخه نه خبر وو او نه ئی
دا ګمان کولی شو چه مونږ به
د دغه راز اقتدار خاوندان شو،
دا جماعت د انګریزانو په
غوړه مالانو او کاسه لیسانو
مشتمل و، او په دې جماعت کښی
خان بهادران، نوابان او د خارجی
نعمتونو عاشقان شامل شوی وو
داخلك به تل د آزادۍ د مینانو
څخه په تنګ او ناکراره و، او تل
به ئې د خلکو او عوامو څخه په ډډه
د شرم نه ډك کرغېړن ژوند کاوه،
په دې لړ کښی د پاکستان د قیام
په اثر دوی ته ښه موقع په لاس
ورغله او دوی هغو خلکو ته چه:

دانګریز پرستانو مخالفت به ئې کاوه دغدار خطابونه ورکړل.
او دوی په ډېره اسانتیا دا حقیقت هم هېر کړ چه پخپله قائد اعظم هم دخپل عمر شپږ کاله دخپلو محبان وطن په کمپ کښې تېر کړی دی چه له ده څخه هم یوه ورځ شپه په شپه غدار جوړ کړی شو.

په بلوچستان کښې زمونږ دپاره له هندوانو څخه کوم خوف او خطر نه و، او ددې په عکس دانګریزانو د کاسه لیسانو سره زمونږ جنګ او مخالفت په شدت سره جاری و، او دغه خلك عبارت در یاستونو دوالیانو، نوابانو، سردارانو سرمایه دارانو، جاګیردارانو او نورو خطاب یافته و، او دباړې د بابو ګانو څخه و، که څه هم دغه ټول خلك مسلمانان و، مګر سره ددی چه دوی دانګریزانو د حوصله افزایۍ په اثر په مسلم لیګ کښې شامل هم شول دعوامو سره ددوی په دښمنۍ کښې څه فرق را نه غی بلکه دغو عوامو سره ددوی ددښمنۍ جذبه لا ډېره شوه، له دی کبله مونږ هم ددوی په مخالفت مجبور شو، په بلوچستان کښې چه کومو خلکو دپاکستان نظریه خلکو ته وړاندی، کړه دغه خلك ئې په نظر کښې نیولی دا کومه پټه خبره نه ده او هر دیانت دار او پوه انسان ته څرګنده ده چه ددې ځای خلکو دمیاشتی تر پایه پوری دپاکستان څخه علیحدګی اختیار کړه، مونږ به دی حقیقت پوهېدلو چه دا کار دبرطانیا دپاره دی او پخپله برطانیا دپاکستان قیام غواړی او دا یو اځی دی دپاره چه دی په دې وسیله دخپل نوآبادیاتی سامراج دپاره یوه آخری چوکۍ جوړه کړی شی.

د ۱۹٤۷ ع کال د جولائی په دریمه نېټه دپنجشنبی په ورځ کیمبل جانسن په خپل کتاب (مشن و ده ماونټ پیټن) کښې لیکلی دی:

چه دپاکستان دقیام نه وروسته زمونږ په مشکلاتو کښې ډېروالی راغلی دی سربېره پردی چه کوم برطانوی حکام چه په بلوچستان کښې مقرر شوی ؤ هغه یو اځی دا نه چه په بلوچستان کښې هغوی په خپل حال وساتلی شول بلکه د هغوی اختیارات هم زیات کړی شول، دانتظامیه واکمن او افسر ته چه په (ای - جی - جی) نوم یاد ېږی یو انګریږ ؤ او ډېره موده په دغه ځای کښې ؤ، دا د برطانوی سازش نتیجه ده چه قلات تر ډېره وخته پوری دباندی او خارج پاته شو.

مونږ په فوری ډول پاکستانی مملکت سره دوفاداری اعلان وکړ هغه هم په هغه ډول لکه څنګه چه دمېږی او شرمښ کیسه مشهوره ده.

زمونږ دغه دوفاداری اعلان چادزړه په صدق قبول نه کړ، دعدم وفاداری هغه لیبل چه په دغه وخت کښې دکاره لوېدلی و، ددغه اعلان په ځای مونږ دازل څخه دپاکستان دښمنان وګڼلی شو، حال دا چه په دغه وخت کښې دپاکستان وجود هم میدان ته نه و، راوتلی.

دا هم یوه ښکاره خبره ده چه کانګرس دا موجوده پاکستان په زور قائداعظم ته ور په غاړه او حواله کړ، حال دا چه:

وی تر آخری لمحې پوری د برطانوی
کابینې د دستگاه د هغه تجویز
حامی و، چه د دغه تجویز له مخی
مسلمانانو صوبو ته د متحد کېدلو
د پاره ویل شوی و.

تر کومه حده چه د اخبری
ماسره تعلق لری زه د همېشه څخه
دیو نه دیو قسم پاکستان د قیام
حامی وم بلکه ما د کانگرس
هغه قرارداد چه په دغه قرارداد
کښی د لسانی صوبو د قیام
ذکر شوی و، د دې لیاری خواته
یو قدم راگرځولی و، ما تل
دیولوی پاکستان د قیام هیله
درلوده او که د دې کار ضرورت
محسوس کړی شی نو تن به هم
د جمهوری قدر و نو احترام
وکړی شی او د پښتنو علاقه به په
آزاد کشمیر، گلکت، په پاکستان
کښی شامل کېدلی شی، لیکن
دا گوډ اوشل پاکستان نه دی.

زه د مغربی پاکستان په
جغرافیائی تاریخی، آب و هوا
او معاشرتی یکسانیت ښه پوهېږم
زه خپلو ملکی ورونو ته دا ښودل
غواړم چه په دې یکسانیت کښی
ځینی مختلف خصوصیتونه هم شته

او باید هغه په نظر کښی
ونیولی شی، همدغه راز باید د غو
خصوصیتونو ته د نشو نما موقع
ور کړیشي او که دا موقع ورنه
کړی شی نو په دغه صورت کښی
به دغه خصوصیتونه سره گډوډ شی
او یو دا ډول زهر به ور څخه
جوړ شی چه دغه زهر به د اتحاد
دغه شیرازه تس نس او خپره
وره کړی د پښتونستان مسئله
یو اختلافی حیثیت لری، باید
دا مسئله په ډېر احتیاط او داسی
همدردی حل کړی شی چه دا بوتی
لوی شی او دغه بوتی د پاکستان
په باغ کښی د گل په شان
وغوړېږی. داسی و نه شی چه
د کومی بې احتیاطی په اثر له
دغه گل څخه اغزی جوړ شی
او د خلکو د پاره د یو مصیبت
موجب شی، زه دا کار د پاکستان
د خدمت په سلسله کښی دا یوه
ډېره زیانه حب الوطنی گڼم چه
ما د پښتونستان د دې گل
د پاکستان په رنگارنگ نقشه
کښی د جوړولو خدمت په غاړه
اخیستی دی، زه په دې خبره

یقین لرم چه کوم خلك چه
دا ښکلی رنگارنگ گل د آمریت
په نشه کښی د یو یونټ په توره نقشه
کښی ورننه ایستل غواړی هغوی
مفاد پرست خلك دی او د دوی په
زړونو کښی د پاکستان د بهبودی
جذبه قطعاً نشته، لیاقت علی خان
مرحوم ته هم څوك غدار او یا
خارجی ایجنټ نه وائی، حال
دا چه هغه هم د یو دا ډول غیر
دلچسپ یکسانیت په خلاف قوم
ته خبرداری ور کړی و، د دې
تر او اشتعال انگیز یو سره ما
دا عهد کړی دی چه د دې مقصد
د پلاس راوستلو د پاره به زه د عدم
تشدد په ذریعه خپل کار جاری
ساتم او د بابړې د قتل عام غوندی
بورر ذیلانه حرکتونه به ماله
دغی لیاری څخه ونه گرځولی شی.

د نهو کالو په اوږده موده کښی
ما او زما کورنۍ د خپلو خالصانه
او محبانه سرگرمیو په پاداش
کښی ډول ډول تېری او مصیبتونه
وگالل او له بلی خوا د پاکستان
د خدمت څخه زمونږ د لری او جلا
ساتلو ذپاره هم باقاعده کوښښونه
جاری ساتل شویدی او کېږی.

الف

الهی دمحبت په اور کښې توان را
سمندر رنګه دپټې خولې بیان را

کل سختی مې له زړه وباسې قادره
لکه زلفې دخوبانو زړه پریشان را

چه دفیض لباس هر څوك را څخه یوسی
ددانش له جنسه ډك هسې دکان را

چه مې شناخت له تا په رشی ذوالجلاله
پخپل لطف سره ډك جام دعرفان را

جسم وجان مې کړه فارغ له غیره خیاله
په منقار دهمای عشق مات استخوان را

چه بې تائې په زړه بله هوا ګرزی
دهغه عالم له دیده ته امان را

ما سوامې له خاطره فراموش کړه
دخپل حب ځای په سینه کښې زما «حنان» را

داخو ناب ځی له چشما نو هر سهار زما
ځکه شو خو نخوار اشناز ما غمخوار زما

پس له مرګه به سر پورته کړم له قبره
که یار کښې دمهرو که پرمزار زما

څو باریك لکه موی نه شی په ډېر فکر
وبه نه وینې په ستر ګو ملا دیار زما

هیڅ سراغ دتنګې خولې مې پیدا نکړ
آس دعقل یکښې لنګ شو صدهزار زما

صفائې ځنې څخېږی لپې لپې
راشه و ګوره رخسار دګل عذار زما

کې کمیس دګل دبوی واغوست و بریښم
تن بې شین تر نیلوفر شی د نګار زما

عقل هیڅ دعشق په باب کښې راو نښود
ای «حنانه» دارفیق نشو پکار زما

ستا له خولې څخه که ګل زده کړه خندا
بلبل هم دسوزڅ رازده کړه له ما

له غیر ته په اورو سوم په چمن کښې
چه مې ولید ګل به رنګ ستا د قبا

هسې سوزد مینې اور په زړه کښې زا کړ
بې شربته د مرګ نلری دوا

د خپل آه قاصد به و لیږم آسمان ته — که علاج مې د درد و کړی مسیحا
زړه مې ستا په عشق کښې بایلود نه غواړم — د کشتۍ ضامن هیڅ نه وی نا خدا
چه په خیال د خط وخال یم اخته شوی — د خاطر تیاره مې نه مومی رڼا

فلك دف د خورشید ووهی له شوقه
چه ستا غم شی له «حنانه» خوا په خوا

دا نور خط دی لکه مشك او مخ دی گل ستا
دواړه ستر گې دې نرگس زلفې سنبل ستا
د اسیر و زړو تړل دی بل څه ندی
چه و غوږو ته خم شوی دی کاکل ستا
هر گزنه اوری شکوه د مهجور انو
آفرین دی وې پر هسې تغافل ستا
که به آه چیرته قبلیږی د عشاقو
نه دې وی هر گز د حسن تنزل ستا
سجدې د شکرانې کړم بسمل طوره
که د زړه غوښې مې ولاړې په منګول ستا
د یوه لښکر سپاهیان دې خپله وژنی
واعجب دی د عشاقو تسلسل ستا

که ژړا افسوس فریاد کوی عیب نه دی
د رخسار پر گل «حنان» دی بوبابل ستا

څو به گرزم ستا د مخ په تمنا — زغلیده پر رڼا نشی د بر بڅنا
ستا د وصل خیال مې نه ځی له خاطره — د مفلس له فکره نه وځی کیمیا

ژبه پرې ښه ده چه نقدد د وو کونو بولی څوك داستادنیم و ښته بها
خزان کښېښودې د گل دژړه رنگه دبلبل د زغ پرپښو باندې حنا
داد کوم سرو قدلار گوری چه هسې صنوبر چه سر له باغه کړ بالا
سیاه بختی لکه سایه را پسی زغلی چه داستا په تورو زلفو شوم اشنا
ترسپین مخودنو خطو غرور ډېروی تر غزال د چین آهولر ی هوا
دائې ستر گې که جادو دی که نرگس دی دشهلا
دائې زلفی خال وخط دی که هجوم دی دبلا
دائې خوله ده که غنچه ده که ئې لب دی که مرجان
دائې غاښ پر ښښی په خوله کښی او که دی دریکتا
دائې زلفی پرمخ ندی پر گلاب باندی سنبل دی
دائې خط دی که عنبر دی او که مشك دی د خطا
سنتره نارنج تورنج دی؛ که غبغب دی حیرانېږم
نه توبه توبه غلط شوم خجل یم له دې وینا
داخنجر دی که مژگان دی چه مې څرخ دزړه په میان
که ناوك دی نه پوهېږم قتلوی مې بې پروا
دائې وروځی که کمان دی چه مې زړه ورته نښان دی
بې صرفې که گوزارونه غشی نه درو می خطا
دائې زنه ده که سیب دی د «حنان» دزړه آسیب دی
چه په تش دیدن ئې کېږی درنځور و زړو دوا
زړه مې ووت ستا د دیدو جنگ ته بیا خدای زده څه به شی ور پېښه له دې خوا
رامعلومه ده چه بیا په توبه واوړی ستاله ستر گو توبه نه ده وړې چا

اختراع دې زما د مرګ نوې پیدا کړه — نوم مې د ېر د ېر یادوی چه هېر کړی ما
په بې زی لیندی دور ځو خدنګ ولی — هېڅ ګذار ئې له زړه نه درومی خطا
دبا نو غشی ئې بې تو بر یو مښلی — هسې رنګ چه خبر نه یم شم اذا
زما په لاس دعشق لمن کله کښېوځی — هر ورغوی لا یق نه دی د حنا
دخندا په موج ئې لب راغله «حنانه»
په چمن کښې کړ غونچې کمیس قبا

دهجران په درد کښې نکېږی سکون زما — یو پر بله شوا خون پر شوا خون زما
دالا د یو د عاشقی نه یم وهلی — چه صحت نشی په دم وپه افسون زما
تورو ستر ګو دیار هسی دېوانه کړم — چه کیلی کا همېشه میل دجنون زما
دنکر یځو رنګ ئې ندی په لاس باندی — مضمحل ئې په منګولو کښې لړمون زما
بې له یاره په چا نشی دزړه سوده — په پردی سا کله شی دغه ژوندون زما
داول مین ژړا لو یه خامی ده — د کباب په دود له سوخته درومی خون زما
هېڅ پروا بې پروا یار زما و نکړه
چه «حنان» له ډېره غمه دی زبون زما

د فتنی په سایه خلاص یم دمژګان ستا — خاطر جمع وی له واړو پریشان ستا
چه الفت زما غریب او ستا د غشو — دغه واړه دلجوئې کوی پیکان ستا
سرئې تل پرزانو ایښی وی دفکر — هغه څوك چه ئې په زړه کښې وی ارمان ستا
ګلاب څه قدر لری ستا ور خسانه — منفعل کړه ګلان واړه ارغوان ستا
له حیرته ستر ګې پټې کړې خوله وازه — له کتو ستر ګې ګڼلې دی حیران ستا
دصحرا آهو به سیل له راته راشی — چه تعریف کړم د چشمانو هر زمان ستا
زرغونه بې شی لاله ګلان له قبره
داچه ګورلره ارمان یو وړ «حنان» ستا

په هز ار رنګه افسونو په او راد ما
مسخر نګړ شوخ چشم پر یز اد ما

سرو مال دین و دنیا دا نش و صبر
په سودا کښې د ګلرخو کړه برباد ما

هېڅ اثر مې پر سنګین خا طر و نکړ
بویه سله خواری و کښې ترفرهاد ما

بې له عشقه بل څه نه راوبل کېږیَ
ګفت مې وری دی په مهر داستاد ما

که خبروای چه شانه بې ستا په کارشی
پرورش به مې ؤ کړی د شمشاد ما

چاته څه وایم اوس هر څه را رسیږی
ګیله نکړم په ځان کړی دی فساد ما

ما وبل غور د «حنان» دبیداد و کړه
وبل شرلی مې له دره دی په داد ما

زما یاره زړه د ې با یلو دپه رښتیا
خبر نه یم یو و ر کو مې دلر با

ددې ښهر خوبرویان دې صد قه شه
بندی کړی ئې ګیسو ر خسار دچا

دچاغم دی خلل کړی دی په زړه کښې
داچه ناست ئې لاس تر ز نې بېنو ا

ځړولی سر مدا م په فکر دو ب ئې
دا د کـو م یو ه د لـبر په تمنا

ته له کومه دوفا حوبونه غوا ړ ی
واره عشق دی چه در و ښوده و فا

خفه مشه په دالحای کښې ته شیدائې
ته دیو دیـار د سـل دپا ره ستا

و «حنان» ته راز عیان کړه چه ته درومې
جر یده د ی د ر پسی تـر هغه ځا

چـه مې و لـیده ر فـتا ر ستا
تو ر ې ز لفې تا ر په تا ر ستا

قـد دې سـر و دا ر م ده
غا نې درو ن دی ښه آبدا ر ستا

پر ګلا ب با نـدی شبنم دی
که عر ق د ی پـر ر خسا ر ستا

سره لـبا ن د ی سـره یا قوت دی
خو ږ تر شهد و د ی ګفتا ر ستا

په کوثر کله او بهیږی چه وی تږی د دیدار ستا
که آفتاب دی که مهتاب دی خوشه چین دی د انوار ستا
خال دانه زلفی دی دام کړی
«حنان» وینم گرفتار ستا

زه طلب دزړه کوم اوزړه طلب ستا آواره شوم له عالمه په سبب ستا
نه نمانځه نه مې وژنې نه مې بولې خیرانیږم و دا فکر ته عجب ستا
که مې خلاص ته در قیب له نا کردو کړې مامظلوم یه دادنیولی دی جلب ستا
خپلوستر گوفتوادر کړه چه می وژنی حیرانی ده پر دا لوستو د مکتب ستا
و کوثر ته حاجت نلری د چښلو چه جام نوش که څوك دمیولبا لب ستا
توقف یه دا کښې مه کوه صنمه
که پروشی د «حنان» په مرگ مطلب ستا

څو به کړم زه ستا د وصل تمنا عقل و هوش راڅخه ولاړ په دا هوا
ستادنا ز خریدته زړونه جودانه ده که په سرروح الامین کوی سودا
سرو مال دین ودنیا به واره در کړم ولې نه ده ستا د نیم و پښته بها
د خپل رنځ علاج وچاته زه بیان کړم مرض سخت دی طبیبان دی بې پروا
بر گ گاه اخستی نشم چه ضعیف یم که څه یو یو یه رنگ زه و کهربا
په نیم دید که مې روح و باخښه و تاته خدای حاضر دی خجل یم له دې وینا
داواره دعشق اکسیر اثر پرو کړ
چه ئې رنگ د «حنان» کړ لکه طلا

نه یو زخم لکه گل دی نمایان زما هزارچا که غونچه طور دی پنهان زما
شکوه کفر ته له بخته و آسمان ته سیاه بختی مې ده دبزم چراغان زما

عاقبت به مې تاراج که خوله د تر کو — چه لری کینه په زړه کښې هر زمان زما
چه له تر کو لیرې گرزی سلامت وی — ولې څه کړم چه زړه ندی په فرمان زما
په ژړا مې نرم نشو زړه د تر کو — نه تر مېږی دغه کاڼی په باران زما
له نگاه سرمه آلو د وستا د لبره — لکه بوی د گل بېږغه شو فغان زما

په داعصر کښې همدرد نشته «حنانه»
چه به و گنډی په رحم چاك گریوان زما

مه غولېږه په راتله د بېوفا — هر گز مه درومه پر پله د بېوفا
که هر څو تینگه وعده درسره وکړی — باور مکوه په خوله د بېوفا
په راتله په نه راتله ئې پروا مکړه — دلگیر مه اوسه په تله د بېوفا
چه نه ننگ لری نه شرم مه ئې غواړه — توبه وکاږه له پله د بېوفا
ځړولی ئې ؤ سرمدام له شرمه — هغه چا چه پت پاله د بېوفا

په قسم چه ئې «حنان» اعتبار نکړ
خوی معلوم ورته هاله د بېوفا

چه مې زړه داستا په مینه کړ اشنا — خپلې وینې مې دځان کړې خونبها
ستا د ستر گو د شهید قبر مې ولید — چه کبلی ورته پراته ؤ شاوخوا
پیروی د عقل هسې ده زاهد ته — لکه یوړوند شی د بل ړانده عصا
تر مجنون نه وه په عشق زلیخا کمه — چه ئې کښېښود مردانه گام د وفا
د یعقوب په شان شوم ړوند راشه یوسفه — د پښو خاورې زما د ستر گو کړه توتیا
پروت د مرگ پر بستریم طبیبه راشه — په یوه بوسه مې شی د زړه دوا

که به که مهربانی کړې وخت دی وخت دی
رحم وکړه پر «حنان» بې دست و پا

ب

د گل بوی سهار را یاد کاندی احباب — جنون پاڅوی سایه د دي سحاب
چه مې بوی د داغ سبا گلشن ته بوور — گل رنگ توی کړ لکه وینه د کباب
زما په مرگ د مستو ستر گوڅه پروا ده — له کشتنه څخه بیم نکړی قصاب
شور په زړه کښې اچوی د عشق خبرې — پر ورش مومی زره هم په آفتاب
تبسم ئې له د شنامه سره زیب کا — قدر زیات لری تر خه چه شی شراب
دل و دین مې په یوه نظر تر جار کړه — لائې عشق لری له ما سره حساب

ستا د مخ په درویزه کښې له «حنانه»
ورك شو صبر او آرام او خورد و خواب

ور خسار ته چه دي گورم بې حجاب — لکه موم و لمر ته ویلې شم له تاب
کله گورم ستا و مخ ته کله گل ته — لکه گوری مقابل څوك دره کباب
او ښې وچې له بانو شی چه تا وینم — د شبنم پاڅېده کېږی له آفتاب
عجب نده که دې زلفې پر مخ تاوشی — پلچه کېږی تل وېښته داور په تاب
دهر چا نصیب جدا دی دا محال دی — د شرمښ قسمت چه ورشی تر قصاب
نصیحت څه اثر و که پر غا فلو — په آواز کله وېښېږی پښ له خواب

د «حنان» تر قلم و څڅېده شهد
چه ئې کېښ صفت د سرو لبو لباب

مخ ئې دی لکه آفتاب — تر آفتابه ئې زیات تاب
له پر توه ستا د مخ دی — چه لمر پټ شو په سحاب
له خجلته د رخسار دی — غرق په وینو شو گلاب

په سرخی دا ستا لبانو — له عقیقو یو وړ آب
نرګس ستا ستر ګو حیران کړ — چه عصا په لاس خراب
له نفسه مې سر سم ځی — په مثال لکه حباب

په تعریف دیار «حنان»
څوك به وکی ستا جواب

پیچ و تاب که کړم دزلفو پیچ و تاب — معطر مې کړ دماغ دمخ ګلاب
دادچادورو ځو خیال ئې په زړه ګرځی — وقبلې ته چه شا کړې ده محراب
داد کوم ماهروی دتیغ له و همه هسې — دهالې سپر پر سرو نیو مهتاب
کیف دچادلب دمیودی حیران یم — داچه ګرځم ګاهی مست ګاهې خراب
لکه اوړ کی چه نمړی په شوخی غواړی — په بوسه کښې عاشق نلری آداب
چه ئې حسن ورځ په ورځ زیاتیږی څه کړم — ورځ په ورځ مې زیاتوی دزړه خوناب

که هرڅو شعر بلند وائې «حنانه»
دحمید مو شګاف نه کیږی جواب

ت

نرم نشوزما په آه زړه د دلدار سخت
نه نرمېږی په باد کانی د کوهسار سخت

غافل مشه هېڅ زمان له مړاوو ستر ګو
په ناجوړه تن کړی مکر دا بیمار سخت

چه ښاخو نه د ابر وئی هسی خم دی
دائې ستر ګو د بادامو راووړ بار سخت

نن شپه مه غواړه قرار له ما ناصحه
مضطرب کړم خیال د زلفو د نګار سخت

چه هر څوك دې یا دوی خاموشی خوی کړه
پټه خوله غونچه بلبل کړه په ګفتار سخت

صافدلان له ګفتګو یه خفه کیږی
شی نفس د آئینې پر مخ غبار سخت

بس کړه ډیر جور و جفا پر «حنان» مکړه
چه ئی کښلی ستا د وصل انتظار سخت

* * *

که مې نکړ له بلبل سره داستان درست
آه می پرې نښو د په باغ کې یو ګریوان درست

د اسلام ښیښه مدام له سنګه ولی
ترکان نه پریږدی په سر کې یو ایمان درست

د معشوق نام و نښان عاشق څر ګند کړ
میوه ښه کوی نهال چه وی باغوان درست

په دالږ عمر په سر باندی ځای ورکه
ارمان دادی که د ګل لاوای پیمان درست

په دادن کې د بوسې پښېمانی مکړه
په وعده په قول ډیر وی کریمان درست

زړه ولاړ شواوښی یو وار پسی ولاړ ي
لکه چیرته لښکر درومی دسلطان درست
هیڅ له خیاله ورته نه گوری سیاه چشم
که «حنان» په اوښو لوند کاندی دامان درست

* * *

د عشق غشی مې کاری تر ځگر ووت
چه له زړه څخه مې خیال ددلبر ووت
لا مې نه ؤ مراد دوصل پیدا کړی
د هجران دلمبې دود مې تر سر ووت
دخپل وصل مرهم زما پر زخم کیږده
تر ځگر مې ستا د ظلم خنجر ووت
مجنون بید له حیرانۍ پښو ته گوری
په هوا د استا تر باغ صنوبر ووت
د غمزو د غشی جنگ لره ئی هر دم
له زخمو مې پر(۱) ځیگر لکه سپر ووت
نور مې څه وژنې په تیغ دنورو ستر گو
د غمزې تیر مې د شا تر کمر ووت
پر محك د امتحان د سخندانو
د «حنان» شعر چاندی لکه زر ووت

---

(۱) پر: یو پاړسو لغت دی چه پښتو معنی ئې ډك دی.

دا شبنم پرمخ د گل دی قطرات
که عرق دی پر رخسار باندې نقاط

دائې تار دزلفو کوزوخوله ته پرې وو ت
که افعی حلقه و هلې پر حیات

چه دستر گو تیغ هر دم په رنجوبات کړی
دم په دم ئې را ته ښئې دمرگ حالات

مخ ئې شو زما قاتل ستر گې شاهدې
بې قاضې ئې زما قتل کړ اثبات

قربانی یم ستاد ستر گوژ رمې وژ نه
پر دغو بیمار و ښه یمه خیرات

په اول بازی دمینې په شطرنج کښې
تا په رخ کړ زما دزړه بادشاه را مات

د حمید د شعر بحر ته «حنا نه»
یوخو خاخکی دی لو یدلی ستا ابیات

تور گیسودی دنگار په لاس را کښیووت
نه پوهیږم که ښامار په لاس را کښیووت

که ارزه لکه شانه شم پرې بې نیز دم
که دتورو زلفو تار په لاس را کښیووت

خو له غونچه ستر گې نرگس زلفې سنبل دی
خط ریحان دی څه گلذار په لاس را کښیووت

تورې زلفې مراوې ستر گې د تر کانو
دراز عمر دی بیمار په لاس را کښیووت

تما شا چه د خپل زړه د داغو تل کړم
هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوو ت
در قیب و سر ته و ږ ی تېزی نا ست یم
پرې بې نېزدم که ئې پلار په لاس را کښېوو ت
زه «حنان» په عشق کې نوی طالع غواړم
که وصال دهغه یار په لاس را کښېووت

ستا دعشق په غم کښی نه یم ملا مت — رائې وښود تر قیا مت پخو اقیا مت
له خا طره مې ستا خیال په ظلم نه ځی — تند ه نه درومی له تېزی په ز حمت
مو زو ن قدچه دې مؤذن په ستر گو ولید — په مسجد کښی ئی ویل قامت قامت
د د ریا ب او به صد ف لره د ی ز هر — شربت نه چښی دچا تېزی د ر حمت
تن بې خیا له زړه بې عشقه په کا ر ندی — بې نگینه گو تې نلر ی قیمت
عشق بې کله دواور کړی ومجنو ن ته — دا بار وړای افلا طون نشو په حکمت
نوی خیال دیار له خولې وائې «حنان»
شنید ه خبر ی نلر ی حر مت

زه هم سست یم قاصد سست او دریم یار سست — زما عشق ځکه په داشو وار په وار سست
را پو هېږی چه پند هیچ اثر پر نه کا — ځکه هسی را ته وغط که هوښیار سست
خط ئی هسی په وار وار ومخ ته را غی — لکه کړ(۱) شی دا سلام په ښار کفار سست
که نو خط دخط په وخت داد که ښائېږی — شی وړ یا متاع چه چېر ته وی بازار سست
مائې هېر ه کړ ه بو سه له ډ ېره غمه — و لې نه مې پر ېږدی ما دا انتظار سست
چه د مخ بهار ئې نه و ینم خا مو ش یم — بللان په زمستان کښی کړی گفتار سست

(۱) کړ: د کړی یا کړل مخف

د خپل عصر د پښتو قدر بلند شو
چه «حنان» په پښتو ژبه کړی گفتار سست

ستا په خط دمخ زینت شو ځکه زیات په ابرو صفائی کېږی د مرآت
دسیاه چشمو دبوسې وعده بېځای ده دآهو په ښاخ موقوف دی دا برات
چه په مصر کښی سو دا د شکر لب شی شی خجل له ښاره و باسی نبات
زړه او عقل می داستاو خیال ته ور کړ پادشاهانو لره وړی رعیت سو رسات
سکندر د زړه مې کله ځینې گرزی چه دې خط لکه شو خضر خو له حیات
نه پو هېږم کل جهان په غم اخته دی که ستا غم کړ را ته تریخ زما اوقات
ته غنی نصاب د حسن دې بوره دی
زه «حنان» یم مستحق را کړه زکات

په حسرت دې تور خط تېر کړ در خسار وخت لکه تېر شی په خزان د لاله زار وخت
زلفې وینی دزړو خوری دخط په وخت کښی دما را نوضا بطه وی د بهار وخت
لکه سیل د غره له سره ژرژر درومی هسی درومی د سنگدلو د عذار وخت
چه ئې خط نه وی پر مخ دبوسې خواست کړه ددعا د قبلېد و وی د سها روخت
شپه د هجر شپه د قوس نه تما مېږی لکه اوږدوی د عاشق دا نتظار وخت
چه دا وښو له بارانه نه خلا صېږی
پر «حنان» دی تمام عمر دملهار وخت

په زنځیر د گیسو شو مه گردن بست چه یوه خواته مې نه رسېږی دست
په دریاب کښی ئې دمینې هسې ډوب یم چه په خیال نه را رسېږی د چا شست

د کا کل له ظلمه سترګې آګاه ندی
چه د شپې په غلو نو نه خبر ېږی مست
چه نخچیر خپل سر پر ځای د قدم کښېښود
کوم صیاد و نیو د کین غشی په شست
له بدنه مې هغه دم روح جدا شی
چه دې وینم له رقیب سره پیوست
نن د حسن به دولت کښې مهر بویه
تل به نوی دغه ستا د حسن هست
حق څه غواړې د محشر په ورځ دلبره
چه رقیب دی کړ بلند او «حنان» پست

﴿ټ﴾

چه اشنای کړ په مرګ مخ را څخه پټ
عجب نه ده که اوس ژاړم په وړټ وړټ
چه له تازه به ئې سر پر بالین نه ښود
ګورستان لره روان شو پر وچ کټ
که مې هر څو افسوس کړ فایده ئې نکړه
د لحد پر خوا ئې مخ ما ته ئې څټ
ما تول او سا زول د فلك کار دی
زنده سر واړه منګی دی دا رهټ
نه له ښه زړه الوا ته نه په بد مرګ شته
د اشنا د مرګ خبر نه کړم خو له پټ

چه مې یار قبر ته ولاړ او زه لاګرزم

په سل ځله تر ما بد دی د هند جټ

په فراق ئې زه «حنان» ستړی ستومان شوم

بېلتا نه پر ځای را و ښود غم پټ

ت

یار مې یار شو له رقیبه الغیاث

آه له دا تو ره نصیبه الغیاث

چه له رنځه مې خبر دوا می نکړی

له دې بې پروا طبیبه الغیاث

په هېڅ نفع سود ئې نه یم پوهیدلی

زړه مې بایلو بې موجبه الغیاث

هر سهار د ګل ګرېوان پاره پاره که

د آزار له عندلیبه الغیاث

چه دې سر پاشی سها په عامو خلقو

له هغه یار و رقیبه الغیاث

جائز ده کړه خون ریزی د شاه په ستر ګو

له دې هسې رنګ ادیبه الغیاث

د «حنان» په حال خبر غمخوری نه که

له دې هسې رنګ حبیبه الغیاث

ښاغلی عزیزالرحمن «ممنون»

پسرلی ته خطاب

ځمکه که دې شنه کړه او غوټۍ دی په خندا کړلې
وریځی ترږمی دې که بدلی په رڼا کړلې
سور کفن پسر که ریدی بیا دژوند اعلان کوی
نازاو نزاکت که دغه ځمکه په اسمان کوی
بیا که بلبلانو چمنونو کښی چغار کړو جوړ
بیا که خراړو زانو په هوا کښی لوی قطار کړو جوړ
بیا که په سیندونو کښی چپی او جوړ موجونه دی
بیا که سکون تللی حرکت او جنبشونه دی
خوځه ای پسرلیه! زما تا سره څه کار نشته
تا سره دوا گوره د مینی د بیمار نشته
ته ئی د عیاشو د تفریح او د سیلو نو وخت
ته ئی د نشو، د چرس و بنگو خمارونو وخت
ته د زخمی زړونو د زخمونو نه خبر نه ئی
دردئی او درمان د مینانو د پرهر نه ئی
ځمکه چه شنه ښکاری دا د شنو زړونو عکسونه دی
مه وایه لاله ورته د سرو وینو موجونه دی
وریځ چه ورته وائی داد سوو زړو آهونه دی
سیند باندی چه یاد دی، ویلی شوی امیدونه دی
گوره پسرلیه چه د ستا په ریا تیرو تم
ستا د سرو گلانو په غمجنه خندا تیرو تم

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د گل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : د پښتو نشرونه د محمددین ژواك تدوین

۷ : پریشانه افکار : د ښاغلی بینوا یو جلد

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواز ه ادب ادبی تنده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ یوازینۍ وسیله ده.

دا مجله د تیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.

تاسی کولای شیء چه دا تنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیوادونو کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدار ی په نورو دباند نیو هیو ا د ونو کښې په (۳) دالره ماته کړیء

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدی مؤسسی د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی.

د ولتی مطبعه